د افغانستان اساسي قانون

قانون اساسی افغانستان

په رسمي جريده کې د خپريدو نېټه: ۱۳۸۲ هـ ش کال د سلواغې د مياشتې (۸)
پرله پسې ګڼه (۸۱۸)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د اساسي قانون د توشېح په باب د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت د رئيس فرمان

ګڼه: (۱۰۳)

نېټه : ۱۳۸۲/۱۱/۶

د لوی خدای په نامه او د افغانستان د نجيبو خلکو د نيکمرغۍ په هيله ، نوی اساسي قانون چې د ۱۳۸۲ هجري لمريز کال د ليندۍ له ۲۲ څخه د مرغومې تر ۱۴ نېټې پورې په کابل کې د جوړې شوي لويې جرګې لخوا په ۱۲ فصلونو ۱۶۲ مادو کې د رأيو په اتفاق تصويب شو، توشيح او انفاذيې اعلاموم.

د متعا ل خدای له دربار څخه هيله کوم تر څو دغه اساسي قانون د اسلام د مبين دين د حکمونو په رعايت سره دملـي يووالي د ټينګښت ، د دموکراسۍ د هدفونو د تحقق د مدني ټولنې د جوړ ولو ، د ټولنيزې اقتصادي ، اجتماعي ، سياسي او فرهنګي سوکالۍ ، د دولت او دهېواد

فرمان رئيس دولت انتقالی اسلامی افغانستان در مورد توشيح قانون اساسی افغانستان

شماره: (۱۰۳)

تاريخ: ۱۳۸۲/۱۱/۶

بنام خداوند بزرگ و به آرزوی سعادت مردم نجيب و صلح دوست افغانستان، قانون اساسی جديد را که توسط لويه جرگۀ تاريخی ۲۲ قوس الی ۱۴ جدی ۱۳۸۲ هجری شمسی، منعقدۀ شهر کابل در ۱۲ فصل و ۱۶۲ ماده به اتفاق آرا تصويب گرديد ، توشيح و انفاذ آنرا اعلام می دارم.

از بارگاه خداوند متعال استدعا دارم تا اين قانون اساسی با رعايت احکام دين مبين اسلام، تحکيم وحدت ملی، تحقق اهداف دموکراسی، اعمار جامعۀ مدنی، رفاه همگانی اقتصادی، اجتماعی، سياسی و فرهنگی، مشعل راه دولت و مردم کشور

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خلکــو د لارې ډيــوه شــي ، ســوله ، برابري او ورورولي د افغانستان د ملت ترمنځ تأمين کړي.

و من الله توفيق

حامد کرزی

د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئيس

۶/ سلواغه/ ۱۳۸۲ هجري شمسي
د کابل ښار

گـــــرديده، صـــــلح، بـــرابـــــری و بـــرادری را بـــــين ملـت افغانســـتان تأمين نمايد.

و من الله توفيق

حامد کرزی

رئيس دولت انتقالی اسلامی افغانستان

۶/ دلو ۱۳۸۲/ هــجری شمســی
شهر کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان د اساسي قانون فهرست

عنوان	د مادو شمېر	مخ
سریزه		۱
لومړی فصل: دولت	(۲۱مادې)	۳
دویم فصل: د اتباعو اساسي حقوق او وجایب	(۳۸ مادې)	۱۰
درېیم فصل: جمهور رئیس	(۱۱ مادې)	۲۶
څلورم فصل: حکومت	(۱۰ مادې)	۳۶
پنځم فصل: ملي شوری	(۲۹ مادې)	۴۰
شپږم فصل: لویه جرګه	(۶ مادې)	۵۵
اووم فصل: قضاء	(۲۰ مادې)	۵۷
اتم فصل: اداره	(۷ مادې)	۶۶
نهم فصل: اضطراري حالت	(۶ مادې)	۶۹
لسم فصل: تعدیل	(۲ مادې)	۷۱
یوولسم فصل: متفرقه حکمونه	(۷ مادې)	۷۲
دولسم فصل: انتقالي حکمونه	(۵ مادې)	۷۴

فهرست قانون اساسی افغانستان

عنوان	تعداد ماده ها	صفحه
مقدمه		۱
فصل اول: دولت	(۲۱ ماده)	۳
فصل دوم: حقوق اساسی و وجایب اتباع	(۳۸ ماده)	۱۰
فصل سوم: رئیس جمهور	(۱۱ ماده)	۲۶
فصل چهارم: حکومت	(۱۰ ماده)	۳۶
فصل پنجم: شورای ملی	(۲۹ ماده)	۴۰
فصل ششم: لویه جرگه	(۶ ماده)	۵۵
فصل هفتم: قضاء	(۲۰ ماده)	۵۷
فصل هشتم: اداره	(۷ ماده)	۶۶
فصل نهم: حالت اضطرار	(۶ ماده)	۶۹
فصل دهم: تعدیل	(۲ ماده)	۷۱
فصل یازدهم: احکام متفرقه	(۷ ماده)	۷۲
فصل دوازدهم: احکام انتقالی	(۵ ماده)	۷۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلوة و السلام علي سيد الانبياء و المرسلين محمد (ﷺ) و على آله و اصحابه اجمعين.

سریزه

موږ د افغانستان خلکو:

■ د لوی خدای (ﷻ) پرسپیڅلي ذات په ټینګ ایمان ، د حق تعالي په مشیت پر توکل او د اسلام په سپیڅلي دین پر اعتقاد ؛

■ د تیرو بې عدالتیو او ناخوالو په درک او زموږ پر هیواد راغلیو بې شمیره مصیبتونو ته په پاملرنه؛

■ د افغانستان د ټولو خلکو د سربښندنو، تاریخي مبارزو، جهاد او بر حق مقاومت د ستایلو او د وطن د آزادۍ د لارې د شهیدانو لوړ مقام ته په ارزښت ورکولو؛

■ په دې درک سره چې واحد او یو موټی افغانستان ددې خاورې په ټولو قومونو او خلکو اړه لري؛

■ د ملګرو ملتو د منشور په رعایت او د بشر دحقوقو نړیوالې

مقدمه

ما مردم افغانستان:

■ با ایمان راسخ به ذات پاک خداوند (ﷻ) و توکل به مشیت حق تعالی و اعتقاد به دین مقدس اسلام؛

■ با درک بی عدالتی ها و نابسامانی های گذشته و مصایب بی شماری که بر کشور ما وارد آمده است؛

■ با تقدیر از فداکاری ها ، مبارزات تاریخی، جهاد و مقاومت بر حق تمام مردم افغانستان و ارج گذاری به مقام والای شهدای راه آزادی کشور؛

■ با درک این که افغانستان واحد و یکپارچه به همه اقوام و مردم این سرزمین تعلق دارد ؛

■ با رعایت منشور ملل متحد و با احترام به اعلامیهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اعلاميې ته په درناوي؛

■ د ملي وحدت د ټينګښت او د هېواد داستقلال، ملي حاكميت او ځمكنۍ بشپړتيا د ساتنې په منظور؛

■ د خلكو پر اراده او د موكراسۍ ولاړ نظام د تأسيس لپاره؛

■ لـه ظلم، استبداد، تبعيض او تاوتريخوالي پاكې، پرقانونيت، اجتماعي عدالت، د انساني حقوقو او كرامت پر خوندي تا به ولاړې مدني ټولنې د جوړولو او دخلكو د اساسي حقوقو او آزاديو د تأمين په منظور؛

■ د هېواد د سياسي، اجتماعي، اقتصادي او دفاعي بنسټونو د پياوړي كولو لپاره؛

■ ددې خاورې ټولو او سيدونكيو ته د يو هوسا ژوندانه او د ژوند د سالم چاپيريال د تأمين په منظور؛

■ او بالاخره په نړيواله كورنۍ كې د افغانستان لپاره د وړ ځاى د تثبيت په منظور؛

د هېواد تاريخي، فرهنګي او ټولنيزو واقعيتونو او د زمان له غوښتنو سره سم مو دغه اساسي قانون

جهانی حقوق بشر؛

■ به منظور تحكيم وحدت ملی و حراست از استقلال، حاكميت ملی و تماميت ارضی كشور؛

■ به منظور تأسيس نظام متكی بر اراده مردم و دموكراسی؛

■ به منظور ايجاد جامعۀ مدنی عاری از ظلم، استبداد، تبعيض و خشونت و مبتنی بر قانونمندی، عدالت اجتماعی، حفظ كرامت و حقوق انسانی و تأمين آزادی ها و حقوق اساسی مردم؛

■ به منظور تقويت بنيادهای سياسی، اجتماعی، اقتصادی و دفاعی كشور؛

■ به منظور تأمين زندگی مرفه و محيط زيست سالم برای همه ساكنان اين سرزمين؛

■ و سرانجام، به منظور تثبيت جايگاه شايستۀ افغانستان در خانوادۀ بين المللی؛

اين قانون اساسی را مطابق به واقعيت های تاريخی، فرهنگی و اجتماعی كشور و مقتضيات عصر،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خپلو استازیو له لارې د یو زرو دري سوه دوه اتیا یم لمریز هجري کال د مرغومي د میاشتې په څوارلسمه نیټه د کابل په ښار کې تصویب کړ.

از طریق نمایندگان منتخب خود درلویه جرگۀ مؤرخ چهاردهم جدی سال یک هزار و سه صد و هشتاد و دو هجری شمسی در شهر کابل تصویب کردیم.

لومړی فصل
دولت

فصل اول
دولت

لومړۍ ماده:
افغانستان ، خپلواک، واحد ، او نه بیلیدونکی اسلامي جمهوري دولت دی.

مادۀ اول:
افغانستان، دولت جمهوری اسلامی، مستقل، واحد و غیر قابل تجزیه می باشد.

دوه یمه ماده:
د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت دین، د اسلام سپیڅلی دین دی.

د نورو ادیانو پیروان د خپل دین په پیروۍ او د خپلو دیني مراسمو په اجرأ کې د قانون د حکمونو په حدودوکې آزاد دي.

مادۀ دوم:
دین دولت جمهوری اسلامی افغانستان، دین مقدس اسلام است.

پیروان سایر ادیان در پیروی از دین و اجرای مراسم دینی شان در حدود احکام قانون آزاد می باشند.

دریمه ماده:
په افغانستان کې هیڅ قانون نشي کولای چې د اسلام دسپیڅلي دین د معتقداتو او احکامو مخالف وي.

مادۀ سوم:
در افغانستان هیچ قانون نمی تواند مخالف معتقدات و احکام دین مقدس اسلام باشد.

څلورمه ماده:
په افغانستان کې ملي حاکمیت په ملت پورې اړه لري چې په مستقیم ډول

مادۀ چهارم:
حاکمیت ملی در افغانستان به ملت تعلق دارد که به طور

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې په خپله يا يې د خپلو استازيو له لارې عملي کوي.

مستقيم يا توسط نمايندگان خود آن را اعمال می کند.

د افغانستان ملت عبارت دی له هغو ټولو افرادو څخه چې د افغانستان تابعيت ولري.

ملت افغانستان عبارت است از تمام افرادی که تابعيت افغانستان را دارا باشند.

د افغانستان ملت له پښتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوچ، پشه يي، نورستاني، ايماق، عرب، قرغيز، قزلباش، گوجر، براهوي او نورو قومونو څخه جوړ دی.

ملت افغانستان متشکل از اقوام پشتون، تاجک، هزاره، ازبک، ترکمن، بلوچ، پشه يی، نورستانی، ايماق، عرب، قرغيز، قزلباش، گوجر، براهوی وساير اقوام می باشد.

د افغان کلمه د افغانستان د ملت پر هر فرد اطلاق کيږي.

برهر فرد از افراد ملت افغانستان کلمۀ افغان اطلاق می شود.

د ملت هيڅ يو فرد د افغانستان له تابعيت څخه نه محروميږي.

هيچ فرد از افراد ملت از تابعيت افغانستان محروم نمی گردد.

په تابعيت او پناه ورکولو پورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظيميږي.

امور مربوط به تابعيت و پناهندگی توسط قانون تنظيم می گردد.

پنځمه ماده:

د دې اساسي قانون او نورو قوانينو د حکمونو تطبيق، له استقلال، ملي واکمنۍ او ځمکنۍ بشپړتيا څخه دفاع او د هېواد د امنيت او دفاعي قابليت تأمين، د دولت له اساسي وظايفو څخه دي.

مادۀ پنجم:

تطبيق احکام اين قانون اساسی و ساير قوانين، دفاع از استقلال، حاکميت ملی و تماميت ارضی و تأمين امنيت و قابليت دفاعی کشور از وظايف اساسی دولت می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږمه ماده:

دولت ، د انساني کرامت په ساتلو، بشري حقوقو د ملاتړ، د دموکراسۍ د تحقق، ملي وحدت د تأمين، د ټولو قومونو او قبايلو ترمنځ د برابرۍ او د هېواد په ټولو سيموکې د متوازنې پراختيا او ټولنيز عدالت پر بنسټ د يوې هوسا او پرمختللې ټولنې په جوړولو مکلف دی.

مادهٔ ششم:

دولت به ایجاد یک جامعه مرفه و مترقی بر اساس عدالت اجتماعی، حفظ کرامت انسانی، حمایت حقوق بشر، تحقق دموکراسی، تأمین وحدت ملی، برابری بین همه اقوام و قبایل و انکشاف متوازن در همه مناطق کشور مکلف می باشد.

اوومه ماده:

دولت د ملګرو ملتونو د منشور، د بين الدول معاهدو، د نړيوالو ميثاقونو چې افغانستان له هغو سره تړاو لري او د بشري حقوقو د نړيوالې اعلاميې رعايت کوي.

مادهٔ هفتم:

دولت منشور ملل متحد ، معاهدات بین الدول، میثاق های بین المللی که افغانستان به آن ملحق شده است و اعلامیهٔ جهانی حقوق بشر را رعایت می کند.

دولت د هر راز تروريستي اعمالو، د مخدره موادو د کرلو او قاچاق او د مسکراتو د توليد او استعمال مخنيوی کوي.

دولت از هر نوع اعمال تروریستی، زرع و قاچاق مواد مخدر و تولید و استعمال مسکرات جلوگیری می کند.

اتمه ماده:

دولت د هېواد خارجي سياست دخپلواکۍ، ملي ګټو او ځمکنۍ بشپړتيا په ساتلو، نه مداخلې، ښه ګاونډيتوب ، متقابل احترام او د حقوقو د برابرۍ پر بنسټ تنظيموي.

مادهٔ هشتم:

دولت سیاست خارجی کشور را بر مبنای حفظ استقلال، منافع ملی و تمامیت ارضی و عدم مداخله، حسن همجواری، احترام متقابل و تساوی حقوق تنظیم می نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهمه ماده:

کانونه او نوري تر ځمکې لاندې زیرمې او لرغوني آثار د دولت ملکیت دي.

د دولت د ملکیتونو ساتنه او اداره او له طبیعي زیرمو او نورو عامه ملکیتونو څخه د سمې استفادې ډول د قانون له لیارې تنظیمېږي.

مادهٔ نهم:

معادن و سایر منابع زیر زمینی و آثار باستانی ملکیت دولت می باشند.

حفاظت و اداره املاک دولت و طرز استفاده درست از منابع طبیعی و سایر املاک عامه توسط قانون تنظیم می گردد.

لسمه ماده:

دولت ، خصوصي پانګې اچونې او خصوصي تشبثات د بازار د اقتصاد د نظام پربنسټ دقانون له حکمونو سره سم هڅوي ، ملاتړېې کوي او مصؤنیت یې تضمینوي.

مادهٔ دهم:

دولت، سرمایه گزاریها و تشبثات خصوصی را مبتنی بر نظام اقتصاد بازار، مطابق به احکام قانون، تشویق، حمایت و مصؤنیت آنها را تضمین می نماید.

یوولسمه ماده:

په کورنۍ او بهرنۍ سوداګرۍ پورې تړلې چارې، د هېواد له اقتصادي غوښتنو او دخلکو له ګټو سره سمې د قانون له لیارې تنظیمېږي.

مادهٔ یازدهم:

امور مربوط به تجارت داخلی و خارجی، مطابق به ایجابات اقتصادی کشور و مصالح مردم ، توسط قانون تنظیم میگردد.

دولسمه ماده:

د افغانستان بانک، د دولت مرکزي او مستقل بانک دی.

د پیسو نشرول، د هېواد د پولي سیاست طرح او تطبیق، د قانون له حکمونو سره سم د مرکزي بانک صلاحیت دی.

مادهٔ دوازدهم:

دافغانستان بانک، بانک مرکزی دولت و مستقل می باشد.

نشر پول و طرح و تطبیق سیاست پولی کشور، مطابق به احکام قانون، از صلاحیت بانک مرکزی می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرکزي بانک د پیسو د چاپ په برخه کې د ولسي جرګې له اقتصادي کمیسیون سره مشوره کوي.

بانک مرکزی در مورد چاپ پول با کمیسیون اقتصادی ولسی جرگه مشوره می نماید.

ددې بانک تشکیل او د کار ډول د قانون له لیارې تنظیمیږي.

تشکیل و طرز فعالیت این بانک توسط قانون تنظیم می شود.

دیارلسمه ماده:

دولت د صنایعو د پراختیا، د تولید د ودې او د خلکو د ژوند د سطحې د لوړتیا او د کسبګرو د فعالیتونو د ملاتړ لپاره اغیزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي.

مادهٔ سیزدهم:

دولت برای انکشاف صنایع، رشد تولید، ارتقای سطح زندگی مردم و حمایت از فعالیتهای پیشه وران، پروگرامهای مؤثر طرح و تطبیق می نماید.

څوارلسمه ماده:

دولت د کرنې او مالدارۍ د پراختیا، د بزګرانو او مالدارانو د اقتصادي ټولنیزو او د ژوند د شرایطو د ښه کولو او د کوچیانو د میشتولو او د دوی د ژوند د سمون لپاره د دولت د مالي توان په حدودوکې اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبیقوي.

مادهٔ چهاردهم:

دولت برای انکشاف زراعت و مالداری، بهبود شرایط اقتصادی، اجتماعی و معیشتی دهقانان و مالدارن و اسکان و بهبود زندگی کوچیان، در حدود بنیه مالی دولت، پروگرامهای مؤثر طرح و تطبیق می نماید.

دولت مستحقو اتباعو ته د استوګنځای د برابرولو په منظور او دعامه ملکیتونو د وېش لپاره، د قانون له حکمونو سره سم او د مالي امکاناتو په حدود کې لازم تدبیرونه نیسي.

دولت به منظور تهیهٔ مسکن و توزیع ملکیتهای عامه برای اتباع مستحق، مطابق به احکام قانون و در حدود امکانات مالی، تدابیر لازم اتخاذ می نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځلسمه ماده:

دولت مکلف دی چې د ځنګلونو او د چاپیریال د خوندي کولو په واليي لپاره لازم تدبیرونه ونیسي.

شپاړسمه ماده:

د پښتو، دري، ازبکي، ترکمني، بلوڅي، پشه یي، نورستاني، پاميري او په هېواد کې د نورو مروجو ژبو له جملې څخه پښتو او دري د دولت رسمي ژبې دي.

په هغو سیمو کې چې د خلکو اکثریت له ازبکي، ترکمني، بلوڅي، پشه یي، نورستاني او يا پاميري ژبو څخه پر يوې خبرې کوي له پښتو او دري سربېره هغه ژبه دريمه رسمي ژبه ده، د تطبيق ډول يې د قانون له لياري تنظيمېږي.

دولت د افغانستان د ټولو ژبو د پياوړتيا او پراختيا لپاره اغيزمن پروګرامونه طرح او تطبيقوي.

په هېواد کې د مطبوعاتو، راډيو او تلويزيون خپرونې د هېواد پر ټولو مروجو ژبو آزادې دي.

په هېواد کې موجود ملي، علمي او اداري مصطلحات ساتل کیږي.

مادۀ پانزدهم:

دولت مکلف است در مورد حفظ و بهبود جنگلات و محیط زیست تدابیر لازم اتخاذ نماید.

مادۀ شانزدهم:

از جمله زبانهای پشتو، دری، ازبکی، ترکمنی، بلوچی، پشه یی، نورستانی، پامیری و سایر زبانهای رایج در کشور, پشتو و دری زبانهای رسمی دولت می باشند.

در مناطقیکه اکثریت مردم به یکی از زبانهای ازبکی، ترکمنی، پشه یی، نورستانی، بلوچی و یا پامیری تکلم می نمایند آن زبان علاوه بر پشتو و دری به حیث زبان سوم رسمی می باشد و نحوۀ تطبیق آن توسط قانون تنظیم می گردد.

دولت برای تقویت و انکشاف همه زبانهای افغانستان پروگرامهای مؤثر طرح و تطبیق می نماید.

نشر مطبوعات و رسانه های گروهی به تمام زبانهای رایج در کشور آزاد می باشد.

مصطلحات علمی و اداری ملی موجود در کشور حفظ می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه لسمه ماده:
دولت په بیلابیلو سطحو کې د معارف د ودې او د دیني زده کړو د پراختیا، د جوماتونو، مدرسو او دیني مرکزونو د وضعې د ښه والي او تنظیم لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

مادۀ هفدهم:
دولت برای ارتقای معارف در همه سطوح، انکشاف تعلیمات دینی، تنظیم و بهبود وضع مساجد، مدارس و مراکز دینی تدابیر لازم اتخاذ می نماید.

اتلسمه ماده:
د هېواد د تقویم مبدأ د پیغمبر اکرم (ﷺ) پر هجرت ولاړ دی.

د دولتي ادارو د کار بنسټ هجري لمریز کال دی.

د جمعې ورځې، د اسد ۲۸ او د ثور ۸ عمومي رخصتۍ دي، نورې رخصتۍ د قانون له لیارې تنظیمېږي.

مادۀ هجدهم:
مبدأ تقویم کشور بر هجرت پیغمبر اکرم (ﷺ) استوار است.

مبنای کار ادارات دولتی تقویم هجری شمسی می باشد.

روزهای جمعه، ۲۸ اسد و ۸ ثور تعطیل عمومی است، سایر رخصتی ها توسط قانون تنظیم می گردد.

نولسمه ماده:
د افغانستان بیرغ له: دریو تور، سور او زرغون رنګه ټوټو څخه جوړ دی. درې واړه ټوټې په مساوي ډول له کیڼ نه ښي لور ته په عمودي ډول سره پرتې وي او د هر رنګ سور د هغه د اوږدو نیمایي دی چې په منځ کې یې د افغانستان ملي نښان ځای پرځای شوی دی.

دافغانستان د دولت ملي نښان له سپین رنګي محراب او منبر څخه جوړ دی چې په دوو څنډو کې یې دوه

مادۀ نزدهم:
بیرق افغانستان مرکب است از: سه قطعه با رنگهای سیاه، سرخ و سبز که به صورت عمودی، به اندازه های مساوی، از چپ به راست، در کنار هم واقع شده، عرض هر رنگ برابر نصف طول آن است و در وسط آن نشان ملی افغانستان قرار دارد.

نشان ملی افغانستان عبارت از محراب و منبر به رنگ سفید می باشد که در دو گوشه آن دو بیرق و

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيرغونه او د منځ په برنۍ برخه کې يې د لاالـه الاالله محمد رسول الله مبارکه کلمه او الله اکبر او د راختونکي لمر وړانګې او په لاندنۍ برخه کې يې د ۱۲۹۸ هجري شمسي تاريخ او د افغانستان کلمه راغلې چې له دوو خواوو څخه دغنمو وږي پرې راګرځول شوي دي.

له بيرغ او ملي نښان څخه د استفادې څرنګوالی د قانون له لياري تنظيمېږي.

شلمه ماده:
د افغانستان ملي سرود په پښتو ژبه دی، الله اکبر او دافغانستان د قومونو نومونه به پکې راځي.

يوويشتمه ماده:
د افغانستان پايتخت د کابل ښار دی.

دوه يم فصل
داتباعو اساسي حقوق او وجايب

دوه ويشتمه ماده:
د افغانستان د اتباعو ترمنځ هر راز تبعيض او امتياز منع دی.

دافغانستان اتباع ښځې او نارينه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري.

در وسط آن در قسمت فوقانی، کلمه مبارک لااله الاالله محمد رسول الله و الله اکبر و اشعهٔ خورشيد در حال طلوع و در قسمت تحتانی آن تاريخ ۱۲۹۸ هجری شمسی و کلمه افغانستان، جا داشته و از دو طرف با خوشه های گندم احاطه شده است.

طرز استفاده از بيرق و نشان ملی توسط قانون تنظيم می گردد.

مادهٔ بيستم:
سرود ملی افغانستان به زبان پشتو و با ذکر الله اکبر و نام اقوام افغانستان می باشد.

مادهٔ بيست و يکم:
پايتخت افغانستان شهر کابل می باشد.

فصل دوم
حقوق اساسی و وجايب اتباع

مادهٔ بيست و دوم:
هر نوع تبعيض و امتياز بين اتباع افغانستان ممنوع است.

اتباع افغانستان اعم از زن و مرد در برابر قانون دارای حقوق و وجايب مساوی می باشند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دری ویشتمه ماده:
ژوند د خدای (ج) بخښنه او د انسان طبیعي حق دی، هیڅوک له قانوني مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کېدای نشي.

مادۀ بیست و سوم:
زندگی موهبت الهی و حق طبیعی انسان است، هیچ شخص بدون مجوز قانونی از این حق محروم نمی گردد.

څلیرویشتمه ماده:
آزادي د انسان طبیعي حق دی. دا حق د نورو له آزادۍ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لیارې تنظیمېږي حدودنه لري.

مادۀ بیست و چهارم:
آزادی حق طبیعی انسان است. این حق جز آزادی دیگران و مصالح عامه که توسط قانون تنظیم می گردد، حدودی ندارد.

د انسان آزادي او کرامت له تېري خوندي دی.

آزادی و کرامت انسان از تعرض مصؤن است.

دولت د انسان د آزادۍ او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی.

دولت به احترام و حمایت آزادی و کرامت انسان مکلف می باشد.

پنځه ویشتمه ماده:
د ذمې برائت اصلي حالت دی.

مادۀ بیست و پنجم:
برائت ذمه حالت اصلی است.

ترهغې چې د باصلاحیته محکمې په قطعي حکم متهم محکوم علیه ثابت نه شي، بې ګناه ګڼل کېږي.

متهم تا وقتی که به حکم قطعی محکمه با صلاحیت محکوم علیه قرار نگیرد، بی گناه شناخته می شود.

شپږ ویشتمه ماده:
جرم یو شخصي عمل دی.

مادۀ بیست و ششم:
جرم یک عمل شخصی است.

د متهم تعقیبول، نیول یا توقیفول او پر هغه باندې د جزاء تطبیق بل هیچاته سرایت نه کوي.

تعقیب، گرفتاری یا توقیف متهم و تطبیق جزا بر او به شخص دیگری سرایت نمی کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه ویشتمه ماده:
هیڅ یو عمل جرم نه ګڼل کېږي خو دهغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب د مخه نافذ شوی وي.

مادهٔ بیست و هفتم:
هیچ عملی جرم شمرده نمی شود مگر به حکم قانونی که قبل از ارتکاب آن نافذ گردیده باشد.

هیڅوک د قانون له حکمونه پرته تعقیبیدای، نیول کیدای او یا توقیفېدای نه شي.

هیچ شخص را نمی توان تعقیب، گرفتار و یا توقیف نمود مگر بر طبق احکام قانون.

هیچاته سزا نشي ورکول کیدای مګر، د با صلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي.

هیچ شخص را نمی توان مجازات نمود مگر به حکم محکمهٔ با صلاحیت و مطابق به احکام قانونی که قبل از ارتکاب فعل مورد اتهام نافذ گردیده باشد.

اته ویشتمه ماده:
د افغانستان هیڅ یو تبعه په جرم باندې د متهم کیدو له امله، بهرني دولت ته نه سپارل کېږي، مګر د ورته معاملي او د هغو بین الدول تړونونو له مخې چې افغانستان ورسره تړاو لري.

مادهٔ بیست و هشتم:
هیچ یک از اتباع افغانستان به علت اتهام به جرم، به دولت خارجی سپرده نمی شود مگر بر اساس معامله بالمثل و پیمان های بین الدول که افغانستان به آن پیوسته باشد.

هیڅ افغان د تابعیت په سلبېدو او په افغانستان کې دننه یا بهر په شړل کېدو نه محکومېږي.

هیچ افغان به سلب تابعیت و یا تبعید در داخل یا خارج افغانستان محکوم نمی شود.

نهه ویشتمه ماده:
د انسان تعذیب منع دی.

مادهٔ بیست و نهم:
تعذیب انسان ممنوع است.

هیڅوک نه شي کولای چې له بل

هیچ شخص نمی تواند حتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخص څخه حتی د حقایقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقیب، نیونې یا توقیف لاندې وي او یا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذیب لپاره اقدام وکړي یا یې د تعذیب امر ورکړي.

به مقصد کشف حقایق از شخص دیگر، اگر چه تحت تعقیب، گرفتاری یا توقیف و یا محکوم به جزا باشد، به تعذیب او اقدام کند یا امر بدهد.

د انساني کرامت مخالفې جزاء ټاکل منع دي.

تعیین جزایی که مخالف کرامت انسانی باشد، ممنوع است.

دېرشمه ماده:

له متهم یا بل شخص څخه په زور تر لاسه شوې څرګندونې، اقرار یا شهادت اعتبار نه لري.

مادهٔ سی ام:

اظهار، اقرار و شهادتی که از متهم یا شخص دیگری به وسیله اکراه به دست آورده شود، اعتبار ندارد.

په جرم اقرار د متهم هغه اعتراف ته وايي چې په بشپړه خوښه او د عقلي روغتیا په حالت کې یې د با صلاحیته محکمې په وړاندې کړی وي.

اقرار به جرم عبارت است از اعتراف متهم با رضایت کامل و در حالت صحت عقل، در حضور محکمهٔ با صلاحیت.

یودېرشمه ماده:

هر څوک کولای شي چې له نیول کېدو سره سم له ځانه د اتهام دلیرې کولو او یا د حق د ثابتولو لپاره مدافع وکیل و ټاکي.

مادهٔ سی و یکم:

هر شخص می تواند برای دفع اتهام به مجرد گرفتاری و یا برای اثبات حق خود، وکیل مدافع تعیین کند.

متهم حق لري چې له نیولو سره سم له منسوب اتهامه ځان خبر کړي او د هغې مودې دننه چې قانون یې ټاکي، محکمه کې حاضر شي.

متهم حق دارد به مجرد گرفتاری، از اتهام منسوب اطلاع یابد و در داخل میعادی که قانون تعیین می کند در محکمه حاضر گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولت په جنايي پېښو کې د بېوزلي متهم لپاره مدافع وکيل ټاکي.

دولت در قضایای جنایی برای متهم بی بضاعت وکیل مدافع تعیین می نماید.

د متهم او د هغه د وکيل تر منځ مکالمات، مراسلات او مخابرات له هر ډول تعرض څخه خوندي دي.

محرمیت مکالمات، مراسلات و مخابرات بین متهم و وکیل آن، از هر نوع تعرض مصؤن می باشد.

د مدافع وکيلانو وظايف او واکونه د قانون له لياري تنظيمېږي.

وظایف و صلاحیت های وکلای مدافع توسط قانون تنظیم می گردد.

دوه دېرشمه ماده:

پور د پوروړي د آزادۍ د سلبيدو يا محدودېدو سبب کيداى نشي.

مادۀ سی و دوم:

مدیون بودن شخص موجب سلب یا محدود شدن آزادی وی نمی شود.

د پور د بيرته اخيستلو لارې چارې او وسايل د قانون له لياري تنظيمېږي.

طرز و وسایل تحصیل دین توسط قانون تنظیم میگردد.

دري دېر شمه ماده:

د افغانستان اتباع د انتخابولو او د انتخابېدلو حق لري.

مادۀ سی و سوم:

اتباع افغانستان حق انتخاب کردن و انتخاب شدن را دارا می باشند.

له دې حق څخه د ګټې اخيستو شرايط اولارې د قانون له لياري تنظيمېږي.

شرایط و طرز استفاده از این حق توسط قانون تنظیم میگردد.

څلور دېرشمه ماده:

د بيان آزادي له تيري څخه خوندي ده.

مادۀ سی و چهارم:

آزادی بیان از تعرض مصؤن است.

هر افغان حق لري چې خپل فکر د وينا، ليکنې، انځور او يا نورو وسيلو له لارې، په دې اساسي قانون کې د راغلو حکمونو په

هر افغان حق دارد فکر خود را به وسیله گفتار، نوشته، تصویر و یا وسایل دیگر، با رعایت احکام مندرج این قانون اساسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

رعايت، ښکاره کړي.

هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم مطالب، بې له دې چې هغه مخکې له مخکې دولتي مقامونو ته وښيي، خپاره او نشر کړي.

د مطبعو، راډيو او تلويزيون، د مطبوعاتو دخپرولو او د جمعي ارتباط په نورو وسايلو پورې مربوط حکمونه د قانون له لارې تنظيمېږي.

پنځه دېرشمه ماده:
د افغانستان اتباع حق لري چې د خپلو مادي او يا معنوي غوښتنو د تأمين لپاره، د قانون له حکمونو سره سم، ټولنې جوړې کړي.

د افغانستان اتباع حق لري د قانون له حکمونو سره سم، سياسي ګوندونه جوړ کړي، په دې شرط چې:

۱- د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د سپېڅلي دين د احکامو او په دې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي؛

۲- د ګوند تشکيلات او مالي منابع ښکاره وي؛

۳- نظامي او نظامي ډوله تشکيلات

اظهار نمايد.

هر افغان حق دارد مطابق به احکام قانون، به طبع و نشر مطالب، بدون ارائه قبلی آن به مقامات دولتی، بپردازد.

احکام مربوط به مطابع، راديو و تلويزيون، نشر مطبوعات و ساير وسايل ارتباط جمعی توسط قانون تنظيم ميگردد.

مادۀ سی و پنجم:
اتباع افغانستان حق دارند به منظور تأمين مقاصد مادی و يا معنوی، مطابق به احکام قانون، جمعيتها تأسيس نمايند.

اتباع افغانستان حق دارند، مطابق به احکام قانون، احزاب سياسی تشکيل دهند، مشروط بر اينکه:

۱- مرامنامه و اساسنامۀ حزب، مناقض احکام دين مقدس اسلام و نصوص و ارزشهای مندرج اين قانون اساسی نباشد؛

۲- تشکيلات و منابع مالی حزب علنی باشد؛

۳- اهداف و تشکيلات نظامی و شبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هدفونه ونه لري؛

۴- له بهرنيو سياسي ګوندونو يا نورو بهرنيو منابعو سره تړلي نه وي؛

د قوم، سيمې، ژبې او فقهي مذهب پر بنسټ د ګوند جوړول او فعاليت کول، جواز نه لري.

هغه جمعيت او ګوند چې د قانون له حکمونو سره سم جوړېږي د قانوني موجباتو او باصلاحيتې محکمې له حکمه پرته نه منحل کېږي.

شپږ دېرشمه ماده:
د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ييزو غوښتنو د تأمين لپاره له قانون سره سم بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي.

اوه دېرشمه ماده:
د اشخاصو د مخابرې او ليکونو آزادي او محرميت که په ليکلې ډول وي يا د تيليفون او تلګراف يا نورو وسيلو له لارې، له تېرى څخه خوندي دي.

دولت د اشخاصو د مخابرو او ليکونو د پلټنې حق نه لري، مګر د قانون له حکمونو سره سم.

نظامی نداشته باشد؛

۴- وابسته به حزب سیاسی و یا دیگر منابع خارجی نباشد؛

تأسیس و فعالیت حزب برمبنای قومیت، سمت، زبان و مذهب فقهی جواز ندارد.

جمعیت و حزبی که مطابق به احکام قانون تشکیل می شود ، بدون موجبات قانونی و حکم محکمۀ با صلاحیت منحل نمی شود.

مادۀ سی و ششم:
اتباع افغانستان حق دارند برای تأمین مقاصد جایز و صلح آمیز، بدون حمل سلاح، طبق قانون اجتماع و تظاهرات نمایند.

مادۀ سی و هفتم:
آزادی و محرمیت مراسلات و مخابرات اشخاص چه به صورت مکتوب باشد و چه به وسیلۀ تیلفون، تلگراف و وسایل دیگر، از تعرض مصؤن است.

دولت حق تفتیش مراسلات و مخابرات اشخاص را ندارد، مگر مطابق به احکام قانون.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اته د پرشمه ماده:

د شخص استوګنځی له تېري څخه خوندي دی. هېڅوک د دولت په ګډون نشي کولای د استوګن له اجازې یا د واکمنې محکمې له قرار پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کور ته ورننوزي یا یې وپلټي.

د څرګند جرم په مورد کې مسئول مامور کولای شي د محکمې له مخکینۍ اجازې پرته د شخص کورته ورننوزي یا هغه وپلټي. نوموړی مامور مکلف دی کور ته له ننوتو یا پلټنې وروسته، په هغه موده کې چې قانون یې ټاکي د محکمې قرار ترلاسه کړي.

مادۀ سی و هشتم:

مسکن شخص از تعرض مصؤن است. هیچ شخص، به شمول دولت، نمی تواند بدون اجازۀ ساکن یا قرار محکمۀ با صلاحیت و به غیر از حالات و طرزی که در قانون تصریح شده است، به مسکن شخص داخل شود یا آن را تفتیش نماید.

در مورد جرم مشهود، مامور مسئول می تواند بدون اجازۀ قبلی محکمه، به مسکن شخص داخل شود یا آن را تفتیش کند. مامور مذکور مکلف است بعد ازداخل شدن یا اجرای تفتیش، در خلال مدتی که قانون تعیین می کند قرار محکمه را حاصل نماید.

نهه د پرشمه ماده:

هر افغان حق لري د هېواد هر ګوټ ته سفر وکړي او استوګن شي خو له هغو سیمو پرته چې قانون منع کړې وي.

هر افغان حق لري د قانون له حکمونو سره سم له افغانستان څخه بهر سفر وکړي او بیرته راستون شي.

دولت له هېواد څخه بهر د افغانستان د اتباعو د حقوقو ساتنه کوي.

مادۀ سی ونهم:

هر افغان حق دارد به هر نقطۀ کشور سفر نماید و مسکن اختیار کند، مگر در مناطقی که قانون ممنوع قرار داده است.

هر افغان حق دارد مطابق به احکام قانون به خارج افغانستان سفر نماید و به آن عودت کند.

دولت از حقوق اتباع افغانستان در خارج از کشور حمایت می نماید.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلويښتمه ماده:
ملکيت له تيري څخه خوندي دی.

هېڅوک د ملکيت د ترلاسه کولو او په هغه کې له تصرف کولو څخه نه منع کېږي، مګر د قانون د احکامو په حدودوکې.

د هيچا ملکيت د قانون د حکم او د باصلاحيته محکمې له پرېکړې پرته نه مصادره کېږي.

د شخص د ملکيت استملاک يوازې د عامه ګټو د تأمين په مقصد، د مخکيني او عادلانه بدل په ورکولو، د قانون له مخې مجاز دی.

د شخص د شتمنۍ پلټنه او اعلان يوازې د قانون په حکم کېداي شي.

يوڅلويښتمه ماده:
بهرني اشخاص په افغانستان کې د عقاري مالونو د ملکيت حق نه لري.

د عقار اجاره د پانګې اچونې په منظور د قانون له حکمونو سره سم جواز لري. د بهرنيو ملکونو پر سياسي نمايندګيو او پر هغو بين المللي مؤسسو چې افغانستان پکې غړيتوب لري د عقاري مالونو پلورل د قانون له حکمونو سره سم جواز لري.

مادهٔ چهلم:
ملکيت از تعرض مصؤن است.

هيچ شخص از کسب ملکيت و تصرف در آن منع نمی شود، مگر در حدود احکام قانون.

ملکيت هيچ شخص، بدون حکم قانون و فيصلهٔ محکمهٔ با صلاحيت مصادره نمی شود.

استملاک ملکيت شخص، تنها به مقصد تأمين منافع عامه، در بدل تعويض قبلی و عادلانه، به موجب قانون مجاز می باشد.

تفتيش و اعلان دارايی شخص، تنها به حکم قانون صورت می گيرد.

مادهٔ چهل و يکم:
اشخاص خارجی در افغانستان حق ملکيت اموال عقاری را ندارند.

اجارهٔ عقار به منظور سرمايه گذاری، مطابق به احکام قانون مجاز می باشد. فروش عقار به نمايندگی های سياسی دول خارجی و به مؤسسات بين المللی که افغانستان عضو آن باشد، مطابق به احکام قانون، مجاز می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه څلويښتمه ماده:
هـر افغـان مکلـف دی د قـانون لـه حکمونـو سره سم دولـت تـه ماليـه او محصول ورکړي.

هيڅ راز ماليه او محصول، د قانون له حکمه پرته نه وضع کېږي.

د ماليې او محصول اندازه او د ورکړې ډول يې د ټولنيز عدالت په رعايت د قانون په وسيله ښوول کېږي.

دا حکم د بهرنيو کسانو او مؤسسو په برخه کې هم تطبيقېږي.

هـر ډول ورکـړه شـوي مـاليه، محصـول او عايـدات، دولتـي واحـد حساب ته تحويلېږي.

دري څلو يښتمه ماده:
زده‌کـړه د افغـانسـتـان د ټولـو اتباعـو حق دی چـې د ليسـانـس تـر درجـې پورې وړيـا د دولـت لـه خـوا تأمينېږي.

دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د متـوازن معـارف د عـامولو او د منځنيو اجباري زده کړو د تأمين لپاره اغېزمن پروګرام طرح او تطبيق کړي او د مورنيـو ژبـو د تـدريس لپاره پـه هغـو سيموکي چې پـرې خبـرې کېـږي لاره

مادۀ چهل و دوم:
هـر افـغان مـکلـف است مطابـق بـه احـکام قانـون بـه دولـت ماليـه و محصول تأديه کند.

هيچ نوع ماليه و محصول، بدون حکم قانون، وضع نمی شود.

انـدازۀ مـاليه و محصـول و طرز تاديۀ آن، بـا رعـايـت عـدالت اجتمـاعی، توسط قانون تعيين ميگردد.

ايـن حکـم در مـورد اشـخاص و مؤسسات خارجی نيز تطبيق ميشود.

هـر نـوع ماليـه، محصـول و عوايـد تـاديه شـده، بـه حـساب واحـد دولتی تحويل داده می شود.

مادۀ چهل وسوم:
تعليم حـق تمام اتباع افغانستان است کـه تـا درجـه ليسـانس در مؤسسـات تعليمـی دولتـی بـه صـورت رايگـان از طرف دولت تأمين می گردد.

دولـت مکلـف است بـه منظـور تعمـيم متـوازن معـارف در تمـام افغانسـتان، تـأمين تعليمـات متوسـطۀ اجبـاری، پروگـرام مـؤثر طرح و تطبيـق نمايـد و زمينه تدريس زبـان هـای مـادری را در مناطقـی کـه بـه آنهـا تکلـم مـی کننـد

(c) ketabton.com: The Digital Library

هواره کړي.

فراهم کند.

ځلور ځلويښتمه ماده:
دولت مکلف دی د ښځود زده کړو د پراختيا او توازن د ايجاد په منظور، دکوچيانو د زده کړو د ښه والي او په هيوادکې د بې سوادۍ د له منځه وړلو لپاره اغېزمن پروګرامونه طرح او تطبيق کړي .

مادهٔ چهل و چهارم:
دولت مکلف است به منظور ايجاد توازن و انکشاف تعليم براى زنان، بهبود تعليم کوچيان و امحاى بى سوادى در کشور، پروگرامهاى مؤثر طرح و تطبيق نمايد.

پنځه ځلويښتمه ماده :
دولت داسلام دسپېڅلي دين د حکمونو او ملي فرهنګ پر بنسټ او له علمي اصولو سره سم، واحد تعليمي نصاب طرح او تطبيقوي او دښوونځيو د ديني مضمونونو نصاب په افغانستان کې د شتو اسلامي مذهبونو پر بنسټ تدوينوي.

مادهٔ چهل و پنجم:
دولت نصاب واحد تعليمى را، بر مبناى احکام دين مقدس اسلام و فرهنگ ملى و مطابق با اصول علمى، طرح و تطبيق مى کند و نصاب مضامين دينى مکاتب را، بر مبناى مذاهب اسلامى موجود در افغانستان، تدوين مى نمايد.

شپږ ځلويښتمه ماده :
د لوړو عمومي او اختصاصي زده کړو د مؤسسو جوړول او اداره کول، د دولت وظيفه ده.

مادهٔ چهل و ششم:
تأسيس و ادارهٔ مؤسسات تعليمات عالى، عمومى و اختصاصى وظيفه دولت است.

دافغانستان اتباع کولای شي د دولت په اجازه د لوړو، عمومي، اختصاصي او د سواد زده کړو مؤسسې جوړې کړي.

اتباع افغانستان مى توانند به اجازهٔ دولت به تأسيس مؤسسات تعليمات عالى، عمومى، اختصاصى و سواد آموزى اقدام نمايند.

دولت کولای شي بهرنيو کسانو ته هم د قانون له حکمونو سره سم دلوړو،

دولت مى تواند تأسيس مؤسسات تعليمات عالى، عمومى و اختصاصى

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمومي او اختصاصي زده کړو د مؤسسو د جوړولو اجازه ورکړي.

را به اشخاص خارجی نیز مطابق به احکام قانون اجازه دهد.

د لوړو زده کړو په دولتي مؤسسو کې دشاملېدو شرطونه او له هغو سره نورې مربوطې چارې، دقانون له لیارې تنظیمېږي.

شرایط شمول در مؤسسات تعلیمات عالی دولتی و سایر امور مربوط به آن، توسط قانون تنظیم میگردد.

اوه څلویښتمه ماده:

دولت د علم ، فرهنګ، ادب او هنر د پرمختګ لپاره اغیز من پروګرامونه طرح کوي.

مادۀ چهل و هفتم:

دولت برای پیشرفت علم، فرهنگ، ادب و هنر پروگرامهای مؤثر طرح می نماید.

دولت د مؤلف، مخترع او کاشف حقوق تضمینوي او په ټولو برخو کې علمي څېړنې هڅوي او ملاتړ یې کوي او د هغو له نتیجو څخه د اغیزمنې ګټې اخیستل د قانون له حکمونو سره سم عاموي.

دولت حقوق مؤلف، مخترع و کاشف را تضمین می نماید و تحقیقات علمی را در تمام عرصه ها تشویق و حمایت می کند و استفادۀ مؤثر از نتایج آن را ، مطابق به احکام قانون، تعمیم می بخشد.

اته څلویښتمه ماده:

کار، د هر افغان حق دي.

مادۀ چهل و هشتم:

کار حق هر افغان است.

دکار د ساعتونو ټاکل، او با معاشه رخصتي، د کار او کارګر حقوق او له هغو سره نورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظیمېږي.

تعیین ساعات کار، رخصتی با مزد ، حقوق کار و کارگر و سایر امور مربوط به آن توسط قانون تنظیم میگردد.

د قانون د حکمونو په حدودو کې د کار او کسب انتخاب آزاد دی.

انتخاب شغل و حرفه، در حدود احکام قانون، آزاد می باشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهه څلويښتمه ماده :

د جبري کار تحميل منع دی.

د جګړې، آفتونو او نورو داسې حالاتو کې چې عامه ژوند او هوساينه تهديد کړي فعاله برخه اخيستنه د هر افغان ملي وجيبه ده.

پر ماشومانو د کار تحميل جواز نه لري.

پنځوسمه ماده:

دولت مکلف دی چې د يوې سالمې ادارې او د هېواد په اداري سيستم کې د سمون د رامنځته کيدو لپاره، لازم تدبيرونه ونيسي.

اداره خپل اجراآت په بشپړه بې طرفۍ او د قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.

د افغانستان اتباع حق لري د قانون د حکمونو په حدودو کې له دولتی ادارو څخه اطلاعات ترلاسه کړي . دا حق د نورو حقوقو او عامه امنيت ته له زيان رسولو پرته، حدود نه لري.

د افغانستان اتباع د اهليت له مخې او له هر ډول توپير څخه پرته د قانون له حکمونو سره سم د دولت خدمت ته منل کيږي.

مادۀ چهل و نهم:

تحميل کار اجباری ممنوع است.

سهم گيری فعا ل در حالت جنگ، آفات و ساير حالاتی که حيات و آسايش عامه را تهديد کند، از وجايب ملی هر افغان می باشد.

تحميل کار بر اطفال جواز ندارد.

مادۀ پنجاهم:

دولت مکلف است به منظور ايجاد ادارۀ سالم و تحقق اصلاحات در سيستم اداری کشور تدابير لازم اتخاذ نمايد.

اداره اجراآت خود را با بيطرفی کامل و مطابق به احکام قانون عملی می سازد.

اتباع افغانستان حق دسترسی به اطلاعات از ادارات دولتی را در حدود احکام قانون دارا می باشند. اين حق جز صدمه به حقوق ديگران و امنيت عامه حدودی ندارد.

اتباع افغانستان بر اساس اهليت و بدون هيچگونه تبعيض و به موجب احکام قانون به خدمت دولت پذيرفته می شوند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوپنځوسمه ماده:
هر څوک چې له اداري څخه بې موجبه زیانمن شي د تاوان اخیستلو مستحق دی او کولای شي د تاوان د ترلاسه کولو لپاره په محکمه کې دعوا اقامه کړي.

له هغو حالاتو پرته چې قانون ښوولي، دولت نشي کولای د با صلاحیته محکمې له حکمه پرته د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره اقدام وکړي.

دوه پنځوسمه ماده :
دولت د افغانستان د ټولو اتباعو لپاره د ناروغیو د مخنیوي او د وړیا علاج وسیلې او روغتیایي آسانتیاوې د قانون له حکمونو سره سم تأمینوي.

دولت له قانون سره سم د خصوصي طبي خدمتونو او روغتیایي مرکزونو جوړول او پراختیا هڅوي او ملاتړ یې کوي.

دولت د سالمې بدني روزنې د پیاوړتیا او د ملي او سیمه ییزو ورزشونو د پراختیا لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

دري پنځوسمه ماده :
دولت د شهیدانو او مفقودینو له پاتې کسانو، د معلولینو او معیوبینو د بیا ځواکمنۍ او په ټولنه کې د هغوی د

مادهٔ پنجاه و یکم:
هر شخص که از اداره بدون موجب متضرر شود مستحق جبران خساره می باشد و می تواند برای حصول آن در محکمه دعوا اقامه کند.

به استثنای حالاتی که در قانون تصریح گردیده است، دولت نمی تواند بدون حکم محکمهٔ با صلاحیت به تحصیل حقوق خود اقدام کند.

مادهٔ پنجاه و دوم:
دولت وسایل وقایه و علاج امراض و تسهیلات صحی رایگان را برای همه اتباع مطابق به احکام قانون تأمین می نماید.

دولت تأسیس و توسعه خدمات طبی و مراکز صحی خصوصی را مطابق به احکام قانون تشویق و حمایت می کند.

دولت به منظور تقویت تربیت بدنی سالم و انکشاف ورزشهای ملی و محلی تدابیر لازم اتخاذ می نماید.

مادهٔ پنجاه و سوم:
دولت به منظور تنظیم خدمات طبی و مساعدت مالی برای بازماندگان شهدأ و مفقودین و برای باز

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالې ونډې اخیستنې په خاطر د مالي مرستو او روغتیایي خدمتونو د تنظیم لپاره د قانون له حکمونو سره سم لازم تدبیرونه نیسي.

توانی معلولین و معیوبین و سهم گیری فعال آنان در جامعه، مطابق به احکام قانون، تدابیر لازم اتخاذ می نماید.

دولت د متقاعدینو حقوق تضمینوي او له زړو کسانو، بې سر پرسته ښځو، معیوبینو او معلولینو او بې وسه یتیمانو سره د قانون له حکمونو سره سم لازمي مرستې کوي.

دولت حقوق متقاعدین را تضمین نموده، برای کهن سالان، زنان بی سرپرست، معیوبین و معلولین و ایتام بی بضاعت مطابق به احکام قانون کمک لازم به عمل می آورد.

څلور پنځوسمه ماده :

کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.

مادهٔ پنجاه و چهارم:

خانواده رکن اساسی جامعه را تشکیل می دهد و مورد حمایت دولت قرار دارد.

دولت د کورنۍ او په ځانګړې توګه د مور او ماشوم د جسمي او روحي روغتیا د تأمین، د ماشومانو د روزنې او د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو سره د مغایرو رسومو د له منځه وړو لپاره لازم تدبیرونه نیسي.

دولت به منظور تأمین سلامت جسمی و روحی خانواده، بالاخص طفل و مادر، تربیت اطفال و برای از بین بردن رسوم مغایر با احکام دین مقدس اسلام تدابیر لازم اتخاذ می کند.

پنځه پنځوسمه ماده :

له هېواد څخه دفاع د افغانستان د ټولو اتباعو وجیبه ده.

مادهٔ پنجاه و پنجم:

دفاع از وطن وجیبهٔ تمام اتباع افغانستان است.

د عسکري مکلفیت د دورې د تېرولو شرطونه دقانون له لیارې تنظیمېږي.

شرایط اجرای دورهٔ مکلفیت عسکری توسط قانون تنظیم میگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ پنځوسمه ماده:
د اساسي قانون د حکمونو پیروي، د قوانینو اطاعت او دعامه نظم او امنیت رعایت دافغانستان د ټولو خلکو وجیبه ده.

د قانون له حکمونو څخه بې خبري عذر نه ګڼل کېږي.

مادهٔ پنجاه و ششم:
پیروی از احکام قانون اساسی، اطاعت از قوانین و رعایت نظم و امن عامه وجیبه تمام مردم افغانستان است.

بی خبری از احکام قانون عذر دانسته نمی شود.

اوه پنځوسمه ماده :
دولت په افغانستان کې د خارجي اتباعو حقوق او آزادۍ له قانون سره سم تضمینوي. دا کسان د بین المللي حقوقو د قواعدو په حدودوکې د افغانستان د دولت د قوانینو په رعایت مکلف دي.

مادهٔ پنچاه و هفتم:
دولت حقوق و آزادی های اتباع خارجی را در افغانستان، طبق قانون تضمین می کند. این اشخاص در حدود قواعد حقوق بین المللی به رعایت قوانین دولت افغانستان مکلف می باشند.

اته پنځوسمه ماده :
دولت په افغانستان کې د بشر د حقوقو د رعایت د څارنې، ښه والي او ملاتړ لپاره، د افغانستان د بشر د حقوقو خپلواک کمېسیون جوړوي.

هر څوک کولای شي د خپلو بشري حقوقو د نقض په صورت کې دې کمېسیون ته شکایت وکړي.

کمیسیون کولای شي د افرادو د بشري حقوقو د نقض موارد، مربوطو قانوني څانګو ته راجع کړي او د هغوی له

مادهٔ پنجاه و هشتم:
دولت به منظور نظارت بر رعایت حقوق بشر در افغانستان و بهبود و حمایت از آن، کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان را تأسیس می نماید.

هر شخص می تواند در صورت نقض حقوق بشری خود، به این کمیسیون شکایت نماید.

کمیسیون می تواند موارد نقض حقوق بشری افراد را به مراجع قانونی راجع سازد و در دفاع از

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقوقو څخه په دفاع کې مرسته وکړي.

حقوق آنها مساعدت نماید.

ددې کمېسیون جوړښت او د کار ډول يې د قانون له لیارې تنظیمېږي.

تشکیل و طرز فعالیت این کمیسیون توسط قانون تنظیم میگردد.

نهه پنځوسمه ماده :
هېڅوک نشي کولای په دي اساسي قانون کې له راغلو آزاديو او حقوقو څخه په ناوړه استفادې د هېواد د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي واکمنۍ او ملي وحدت پر ضد عمل وکړي.

مادۀ پنجاه و نهم:
هیچ شخص نمی تواند با سوء استفاده از حقوق و آزادیهای مندرج این قانون اساسی، بر ضد استقلال، تمامیت ارضی، حاکمیت و وحدت ملی عمل کند.

دریم فصل
جمهور رئیس

فصل سوم
رئیس جمهور

شپیتمه ماده :
جمهور رئیس د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت په سر کې دی چې خپل واکونه په اجرائیه، مقننه او قضائیه برخو کې ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم عملي کوي.

مادۀ شصتم:
رئیس جمهور در رأس دولت جمهوری اسلامی افغانستان قرار داشته، صلاحیت های خود را در عرصه های اجرائیه، تقنینیه و قضائیه، مطابق به احکام این قانون اساسی، اعمال می کند.

جمهور رئیس دوه، لومړی او دویم مرستیالان لري.

رئیس جمهور دارای دو معاون اول و دوم، می باشد.

د جمهوري ریاست کاندید د خپلو مرستیالانو نومونه د ځان له کاندیدولو سره یو ځای ملت ته اعلاموي.

کاندید ریاست جمهوری نام هر دو معاون را همزمان با کاندید شدن خود به ملت اعلام میدارد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمهــور رئـیس لــومړی مرسـتیال د جمهور رئـیس د غیـاب، استعفأ او یا مړینې په حالاتوکې ددې اساسي قـانون له مندرجو حکمونو سره سم، کار کوي.

د جمهـــــور رئــــیس د لــومـــــــړي مــرستــیـــال پــه غیـاب کـې، دویـم مرستیال د اساسـي قـانون لـه مندرجو احکامو سره سم، عمل کوي.

یوشپیتمه ماده :

جمهـــور رئـیس د راي ورکوونکیـــو د آزادو، عمومي، پټو او مستقیمو رایو لــه لارې په سلـوکې تر پنځوسو زیاتو رایو په ترلاسه کـولو انتخابېږي.

د جمهـور رئـیس وظیفـه تـر انتخابـاتو وروسـته د پـنځم کـا ل د غبرګـولي پـه لومړی نیټه پای ته رسېږي.

د جمهور رئیس د کار تر پای ته رسېدو د مخـه د نـوي جمهـور رئـیس د ټـاکلو لپـاره انتخابـات، لـه دیرشـو ترشپیتو ورځو پورې، موده کې کېږي.

کـه چېـرې پـه لــومړي پـړاو کـې لـه کاندیدانو څخه یـو هم ونـه کړای شي چې په سلوکې تـر پنځوسو زیـاتې رایـې ترلاسـه کـړي، انتخابـات د دوهـم ځـل لپاره د انتخابـاتو د نتـایجو د نېټـې تر اعـلان وروسـته د دوو اونیـو پـه اوږدو

معــاون اول رئـیس جمهــور در حالــت غیــاب، اســتعفأ و یــا وفــات رئـیس جمهــور، مطـابق بـه احکـام منـــدرج ایــن قانون اساسی، عمل می کند .

در غـیــــاب مـــعاون اول رئـیس جمهــور، معـــاون دوم مطــابـــق بـه احکام منــدرج ایــن قـــانون اساسی عمل می کــند .

مادهٔ شصت و یکم:

رئیس جمهور بـا کسب اکثریت بیش از پنجـاه فـی صد آرای رای دهنـد گان از طریــق رأی گیــری آزاد ، عمــومی، سری و مستقیم انتخاب می گردد .

وظـیفــهٔ رئـیـــس جــــمهور در اول جوزای سـال پـنجم بعد از انتخابـات پایان می یـابــد .

انتخابــات بــه منظـور تعیـین رئـیس جمـهور جــدید در خــلال مــدت سی الــی شــصت روز قبــل از پایــان کــار رئــیس جمهـــور برگزار میگردد .

هـرگــــاه در دور اول هـــیچ یـــک از کــانـدیـدان نتـواند اکثریت بـیش از پنجـــاه فـــی صد آرا را بـه دســت آورد ، انتــــخابات بــرای دور دوم در ظـــــرف دو هفــته از تــاریخ اعــلام نتـــایج انتـــخابات بــرگزار مــی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې تر سره کېږي . دا ځل يوازي هغه دوه تنه کانديدان په انتخاباتو کې برخه اخلي چې په لومړي پړاو کې يې تر ټولو زياتي رايي ترلاسه کړي وي.

د انتخاباتو په دويم پړاو کې هغه څوک چې د رايو اکثريت ترلاسه کړي، جمهور رئيس ګڼل کېږي.

که چېرې د جمهوري رياست يو کانديد د راى ګيرى د لومړي يا دويم پړاو په جريان او يا تر انتخاباتو وروسته او يا د انتخاباتو د نتايجو له اعلان څخه پخوا مړ شي، نوي انتخابات د قانون له حکمونو سره سم کېږي.

دوه شپيتمه ماده :

څوک چې جمهوري رياست ته کانديد يږي، بايد دلاندنيو شرطونو لرونکی وي:

۱- د افغانستان تبعه، مسلمان، له افغان مور او پلار څخه زېږيدلی وي او د بل هېواد تابعيت ونه لري؛

۲- د کانديديدو په ورځ يې عمر تر څلويښتو کلونو لږ نه وي؛

۳- د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو، او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم

گردد و در اين دور تنها دو نفر از کانديدانى که بيشترين آرا را در دور اول به دست آورده اند، شرکت مى نمايند.

در دور دوم انتخابات، کانديدى که اکثريت آرا را کسب کند، رئيس جمهور شناخته مى شود.

هرگاه يکى از کانديدان رياست جمهورى در جريان دور اول يا دوم رأى گيرى و يا بعد از انتخابات و قبل از اعلام نتايج انتخابات وفات نمايد، انتخابات مجدد مطابق به احکام قانون برگزار ميگردد.

مادۀ شصت و دوم:

شخصى که به رياست جمهورى کانديد مى شود، واجد شرايط ذيل مى باشد:

۱- تبعۀ افغانستان، مسلمان و متولد از والدين افغان بوده و تابعيت کشور ديگرى را نداشته باشد؛

۲- در روز کانديد شدن سن وى از چهل سال کمتر نباشد؛

۳- از طرف محکمه به ارتکاب جرايم ضد بشرى، جنايت و يا حرمان از حقوق مدنى محکوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی نه وي؛

نشده باشد ؛

هېڅ شخص نشي کولای له دوو دورو زيات د جمهور رئيس په حيث وټاکل شي.

هیچ شخص نمی تواند بیش از دو دوره به حیث رئیس جمهور انتخاب گردد.

په دې ماده کې راغلی حکم د جمهور رئيس د مرستيالانو په برخه کې هم تطبيقېږي.

حکم مندرج این ماده در مورد معاونین رئیس جمهور نیز تطبیق می گردد.

دري شپېتمه ماده :

جمهور رئيس د کار تر پيل د مخه، د ځانګړې کړنلارې سره سم، چې د قانون له لياري تنظيمېږي، دا لاندې لوړه يادوي:

مادۀ شصت و سوم:

رئیس جمهور قبل از تصدی وظیفه، مطابق به طرز العمل خاص که توسط قانون تنظیم میگردد ، حلف آتی را به جا می آورد:

بسم الله الرحمن الرحيم

"د لوی خدای (جل جلاله) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپېڅلي دين پيروي او ساتنه وکړم. د اساسي قانون او نورو قوانينو رعايت او د تطبيق څارنه وکړم.

د افغانستان د خپلواکۍ، ملي واکمنۍ، ځمکنۍ بشپړتيا ساتنه او د افغانستان د خلکو حقوق او ګټې خوندي کړم او د لوی خدای (ج) له دربار څخه د مرستې په غوښتلو او د ملت په ملاتړ د افغانستان د خلکو د پرمختګ او هوسايۍ په لاره

بسم الله الرحمن الرحيم

"به نام خداوند بزرگ (جل جلاله) سوگند یاد می کنم که دین مقدس اسلام را اطاعت و از آن حمایت کنم. قانون اساسی و سایر قوانین را رعایت و از تطبیق آن مواظبت نمایم.

از استقلال، حاکمیت ملی و تمامیت ارضی افغانستان حراست و حقوق و منافع مردم افغانستان را حفاظت کنم و با استعانت از بارگاه پروردگار متعال و پشتیبانی ملت، مساعی خود را در راه سعادت و ترقی مردم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې خپلې هڅې جارې وساتم."

څلور شپيتمه ماده:
جمهور رئيس لاندې واکونه او وظيفې لري:

۱- د اساسي قانون د اجرأ څارل؛

۲- د ملي شورى په تصويب د هېواد د سياست د اساسي کرښو ټاکل؛

۳- د افغانستان د وسله والو ځواکونو ستر مشرتوب؛

۴- د ملي شورى په تاييد دجګړې او متارکې اعلانول؛

۵- د ځمکنۍ بشپړتيا او د خپلواکۍ د ساتنې د دفاع په حالت کې د لازم تصميم نيول؛

۶- د ملي شورى په تاييد له افغانستان څخه بهر ته د وسله والو ځواکونو د ټولګيو لېږل؛

۷- ددې اساسي قانون په (نهه شپيتمه) ماده کې له راغلي حالت پرته، دلويې جرګې راغوښتل؛

۸- د ملي شورى په تاييد د اضطراري حالت اعلان او دهغه پاى ته رسول؛

افغانستان بکار برم."

مادۀ شصت و چهارم:
رئيس جمهور داراى صلاحيتها و وظايف ذيل مى باشد:

۱- مراقبت از اجراى قانون اساسى؛

۲- تعيين خطوط اساسى سياست كشور به تصويب شوراى ملى؛

۳- قيادت اعلاى قواى مسلح افغانستان؛

۴- اعلان حرب و متاركه به تائيد شوراى ملى؛

۵- اتخاذ تصميم لازم در حالت دفاع از تماميت ارضى و حفظ استقلال؛

۶- فرستادن قطعات قواى مسلح به خارج افغانستان به تائيد شوراى ملى؛

۷- داير نمودن لويه جرگه به استثناى حالت مندرج مادۀ شصت و نهم اين قانون اساسى؛

۸- اعلان حالت اضطرار به تائيد شوراى ملى و خاتمه دادن به آن؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

۹- د ملي شورى او لويې جرگې د غونډو پرانيستل؛

۱۰- د جمهوري رياست د مرستيالانو د استعفى منل؛

۱۱- د ولسي جرگې په تاييد د وزيرانو، لوى څارنوال، د مركزى بانک، د ملی امنيت او سرې مياشتې د رئيسانو ټاکل او د هغوی عزلول او د استعفى منل؛

۱۲- د ولسي جرگې په تاييد د سترې محكمې د رئيس او غړيو ټاکل؛

۱۳- د قانون له حكمونو سره سم د قاضيانو، د وسله والو ځواكونو، پوليسو، د ملی امنيت د منصبدارانو او دلوړ رتبه مامورينو ټاکل، تقاعد وركول، د استعفى منل او عزلول؛

۱۴- په بهرنيو هېوادونو او نړيوالو مؤسسو کې د افغانستان د سياسي نماينده گيو د مشرانو ټاکل؛

۱۵- په افغانستان کې د بهرنيو سياسي نماينده گانو د باورليكونو منل؛

۱۶- د قوانينو او تقنيني فرمانونو توشېح كول؛

۹- افتتاح اجلاس شورای ملی و لويه جرگه؛

۱۰- قبول استعفای معاونين رياست جمهوری؛

۱۱- تعيين وزرا، لوی څارنوال، رئيس بانک مركزی، رئيس امنيت ملی و رئيس سره مياشت به تائيد ولسی جرگه و عزل و قبول استعفای آنها؛

۱۲- تعيين رئيس و اعضای ستره محكمه به تائيد ولسی جرگه؛

۱۳- تعيين، تقاعد، قبول استعفا و عزل قضات، صاحب منصبان قوای مسلح، پوليس و امنيت ملی و مامورين عالی رتبه مطابق به احكام قانون؛

۱۴- تعيين سران نماينده گی های سياسی افغانستان نزد دول خارجی و مؤسسات بين المللی؛

۱۵- قبول اعتماد نامه های نماينده گان سياسی خارجی در افغانستان؛

۱۶- توشيح قوانين و فرامين تقنينی؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷- د قانون له حکمونو سره سم د دولتونو ترمنځ د معاهدو د عقد لپاره د باورليکونو ورکول؛

۱۸- د قانون له حکمونو سره سم د جزاګانو تخفيف او بخښل؛

۱۹- د قانون له حکمونو سره سم د مډالونو، نښانونو او افتخاري لقبونو ورکول؛

۲۰- د هېواد د اداري سمون په منظور، د قانون له مخې، د کمېسيونونو جوړول؛

۲۱- په دې اساسي قانون کې نور راغلي واکونه او وظايف؛

پنځه شپېتمه ماده:

جمهور رئيس کولای شي په مهمو ملي، سياسي، ټولنيزو او يا اقتصادي چارو کې د افغانستان د خلکو ټولپوښتنې ته مراجعه وکړي.

ټولپوښتنه بايد د دې اساسي قانون د حکمونو مخالفه او د هغه د تعديل مستلزم نه وي.

شپږ شپېتمه ماده:

جمهور رئيس په دې اساسي قانون کې

۱۷- اعطای اعتبار نامه به غرض عقد معاهدات بين الدول مطابق به احکام قانون؛

۱۸- تخفيف و عفو مجازات مطابق به احکام قانون؛

۱۹- اعطای مدالها، نشانها و القاب افتخاری مطابق به احکام قانون؛

۲۰- تأسيس کميسيون ها به منظور بهبود ادارۀ کشور مطابق به احکام قانون؛

۲۱- ساير صلاحيتها و وظايف مندرج اين قانون اساسی؛

مادۀ شصت و پنجم:

رئيس جمهور می تواند در موضوعات مهم ملی، سياسی، اجتماعی و يا اقتصادی به آرای عمومی مردم افغانستان مراجعه نمايد.

مراجعه به آرای عمومی نبايد مناقض احکام اين قانون اساسی ويا مستلزم تعديل آن باشد.

مادۀ شصت و ششم:

رئيس جمهور در اعمال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د راغلو واکونو د عملي کولو په برخه کې د افغانستان د خلکو لوړ مصلحتونه په پام کې نيسي.

صلاحيتهای مندرج اين قانون اساسی، مصالح عليای مردم افغانستان را رعايت می کند.

جمهور رئيس نشي کولای چې د قانون له حکمه پرته دولتي ملکيتونه او شتمنۍ وپلوري او يا يې وبخښي.

رئيس جمهور نمی تواند بدون حکم قانون ملکيت های دولتی را بفروشد يا اهدا کند.

جمهور رئيس نشي کولای د خپل کار په دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنيو، سيمه‌ييزو، قومي، مذهبي او ګوندي ملحوظاتو ګټه واخلي.

رئيس جمهور نمی تواند در زمان تصدی وظيفه از مقام خود به ملحوظات لسانی، سمتی، قومی، مذهبی و حزبی استفاده نمايد.

اوه شپيتمه ماده:

د جمهور رئيس د استعفی، عزل، مړينې او يا په صعب العلاجه ناروغۍ د اخته کېدلو په صورت کې چې د وظيفې د اجرا مخه نيسي د جمهور رئيس لومړی مرستيال د جمهور رئيس واکونه او وظايف په غاړه اخلي.

مادۀ شصت و هفتم:

در صورت استعفا، عزل يا وفات رئيس جمهور و يا مريضی صعب العلاج که مانع اجراء وظيفه شود، معاون اول رئيس جمهور صلاحيتها و وظايف رئيس جمهور را به عهده می گيرد.

جمهور رئيس خپله استعفی په خپله ملی شوری ته اعلاموي.

رئيس جمهور استعفای خود را شخصاً به شورای ملی اعلام می نمايد.

د صعب العلاجه ناروغۍ تثبيت د هغه طبی هيئت له خوا کېږي چې ستره محکمه يې ټاکي.

تثبيت مريضی صعب العلاج توسط هيئت طبی با صلاحيت که از طرف ستره محکمه تعيين ميگردد صورت ميگيرد.

په داسې حالاتو کې د نوي جمهور

در اين حالات در خلال مدت سه

(c) ketabton.com: The Digital Library

رئیس د ټاکلو لپاره په درې میاشتو کې دننه ددې اساسي قانون د یوشپیتمې مادې له حکم سره سم انتخابات کېږي.

ماه انتخابات به منظور تعیین رئیس جمهور جدید طبق مادۀ شصت و یکم این قانون اساسی برگزار میگردد.

د جمهور رئیس لومړی مرستیال د لنډ مهاله جمهور رئیس په توګه، د وظیفې د ترسره کولو په موده کې لاندینۍ چارې نشي ترسره کولای:

معاون اول رئیس جمهور در زمان تصدی به حیث رئیس جمهور موقت امور ذیل را انجام داده نمی تواند:

۱- د اساسي قانون تعدیل؛

۱- تعدیل قانون اساسی؛

۲- د وزیرانو عزل؛

۲- عزل وزرا؛

۳- ټول پوښتنه؛

۳- مراجعه به آرای عامه؛

د جمهور رئیس مرستیالان ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم کولای شي ځان جمهوري ریاست ته کاندید کړي.

معاونین رئیس جمهور می توانند مطابق به احکام این قانون اساسی خود را به ریاست جمهوری کاندید نمایند.

د جمهور رئیس په غیاب کې د لومړي مرستیال وظایف د جمهور رئیس په واسطه ټاکل کېږي.

در صورت غیاب رئیس جمهور، وظایف معاون اول توسط رئیس جمهور تعیین می گردد.

اته شپیتمه ماده :
که چېرې د جمهور رئیس یو مرستیال استعفی وکړي او یا مړ شي د هغه پرځای بل شخص د جمهور رئیس له خوا او د ولسی جرګې په تائید ټاکل کېږي.

مادۀ شصت و هشتم:
هرگاه یکی از معاونین رئیس جمهور استعفاء و یا وفات نماید عوض وی شخص دیگری توسط رئیس جمهور به تائید ولسی جرگه تعیین میگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جمهور رئيس او د هغه د لومړي مرستيال د يوځايي مړينې په صورت کې په ترتيب سره دويم مرستيال، د مشرانو جرگې رئيس د ولسي جرگې رئيس د او د بهرنيو چارو وزير يو په بل پسي ددې اساسي قانون د (اوه شپيتمې) مادې له حکم سره سم د جمهور رئيس وظيفې په غاړه اخلي.

نهه شپيتمه ماده :

جمهور رئيس د ملت او ولسي جرگې په وړاندې ددې مادې د احکامو مطابق مسؤل دی.

پر جمهور رئيس د بشري ضد جرمونو، ملي خيانت يا جنايت د ارتکاب تور لگول د ولسي جرگې د ټولو غړيو د درييمې برخې له خوا غوښتل کيداى شي. که چېرې داغوښتنه د ولسي جرگې د ټولو غړيو له دريو څخه د دوو برخو د رايو له خوا تاييد شي، ولسي جرگه د يوې مياشتې دننه لويه جرگه دايروي.

که لويه جرگه منسوب شوى اتهام د ټولو غړيو له دريو څخه د دوو برخو د رايو په اکثريت تصويب کړي، جمهور رئيس له وظيفې څخه گوښه او موضوع ځانگړې محکمې ته سپارل کيږي. ځانگړې محکمه د ولسی

در صورت وفات همزمان رئيس جمهور و معاون اول وى، بالترتيب معاون دوم، رئيس مشرانو جرگه، رئيس ولسى جرگه و وزير خارجه يکى بعد ديگرى مطابق به حکم مندرج مادۀ شصت و هفتم اين قانون اساسى وظايف رئيس جمهور را به عهده ميگيرد.

مادۀ شصت و نهم:

رئيس جمهور در برابر ملت و ولسى جرگه مطابق به احکام اين ماده مسئول مى باشد.

اتهام عليه رئيس جمهور به ارتکاب جرايم ضد بشرى، خيانت ملى يا جنايت، از طرف يک ثلث کل اعضاى ولسى جرگه تقاضا شده مى تواند. در صورتيکه اين تقاضا از طرف دو ثلث کل آراى ولسى جرگه تائيد گردد، ولسى جرگه در خلال مدت يک ماه لويه جرگه را داير مى نمايد.

هرگاه لويه جرگه اتهام منسوب را به اکثريت دو ثلث آراى کل اعضا تصويب نمايد، رئيس جمهور از وظيفه منفصل و موضوع به محکمۀ خاص محول ميگردد. محکمۀ خاص متشکل است از

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرگې له دريو غړيو، دستري محکمې له دريو غړيو چې لويه جرگه يې ټاکي او د مشرانو جرگې لـه رئيس څخـه جوړيږي، دعـوي د هغـه شخص لـه خوا چې د لوې جرگې لـه خوا ټـاکل کيږي، اقامه کيږي.

په دې حالت کې د دې اساسي قانون پـه (اوه شـپيتمه) مـاده کـې راغلـي حکمونه تطبيقيږي.

اويا يمه ماده :
د جمهـور رئـيس تنخـوا او لگښـتونه د قانون له لياري تنظيميږي.

جمهـور رئـيس د خـدمت د دورې تـر ختمېدو وروسته د عزل له حالته پرته د خپل ژوند په پاتې موده کې د جمهوري رياست د دورې له مالي حقوقو څخه د قانون له حکمونو سره سم، گټه اخلي.

څلورم فصل
حکومت

يواويايمه ماده:
حـکومـت لـــه وزيـــرانـــو څـخـــه جـــوړ دی چـــې د جـــمـــهور رئيس تـــر ريـــاســـت لاندې کـــار کـــوي. د وزيـرانـو شـميـر او وظايـف د قـانون له لياري تنظيميږي.

رئـيس مـشرانـو جـرگه، سـه نفـر از اعضـاى ولسـى جـرگه و سـه نفـر از اعضاى ستره محکمه به تعيين لويه جـرگه، اقامۀ دعوى توسط شخصى کـه از طـرف لويـه جرگـه تعيـين مـى گـردد صورت ميگيرد.

در ايـن حالـت احکـام منـدرج مـادۀ شصـت و هفـتم ايـن قـانون اساسـى تطبيق مى گردد.

مادۀ هفتادم:
معـاش و مصـارف رئـيس جمهـور تـوسط قانون تنظيم مى گردد.

رئـيس جمهـور بعـد از خـتم دوره خـدمت، بـه استثناى حـالت عـزل، براى بقيه مـدت حيات از حقوق مالى دوره رياسـت جمـهورى مطـابق بـه احـکام قانون مستفيد مى شود.

فصل چهارم
حکومت

مادۀ هفتاد و يکم:
حـکومـت مـتشـکل است از وزرا کـه تحـت ريـاسـت رئـيس جـمهـور اجـراى وظـيفه مى نمـاينـد. تعداد وزرا و وظايـف شـان تـوسـط قـانـون تـنظيم مـى گـردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه اویایمه ماده :
ځوک چې د وزیر په توګه ټاکل کیږي باید لاندیني شرطونه ولري:

۱- یوازي د افغانستان د تابعیت لرونکی وي.

که چیري د کوم وزارت کاندید د بل هیواد تابعیت هم ولري ولسي جرګه د هغه د تائید یا رد ، صلاحیت لري؛

۲- لوړ تحصیلات، کاري تجربه او ښه شهرت ولري؛

۳- عمر یې تر پنځه دیرش کلونو لږ نه وي؛

۴- د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوی نه وي.

دري اویایمه ماده :
کیدای شي وزیران د ملي شوری له غړیو او یا له هغو د باندې وټاکل شي.

کله چې د ملي شوری غړی د وزیر په توګه وټاکل شي، په شوری کې خپل غړیتوب له لاسه ورکوي او د هغه

مادهٔ هفتاد و دوم:
شخصی که به حیث وزیر تعیین می شود واجد شرایط ذیل می باشد:

۱- تنها حامل تابعیت افغانستان باشد.

هرگاه کاندید وزرات تابعیت کشور دیگری را نیز داشته باشد، ولسی جرگه صلاحیت تائید و یا رد آنرا دارد؛

۲- دارای تحصیلات عالی، تجربهٔ کاری و شهرت نیک باشد؛

۳- سن وی از سی و پنج سال کمتر نباشد؛

۴- از طرف محکمه به ارتکاب جرایم ضد بشری، جنایت و یا حرمان از حقوق مدنی محکوم نشده باشد.

مادهٔ هفتاد و سوم:
وزرا می توانند از اعضای شورای ملی یا خارج از آن تعیین شوند.

هرگاه عضو شورای ملی به حیث وزیر تعیین شود، عضویت خود را در شوری از دست میدهد و در عوض

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرځاي بل شخص د قانون له حکم سره سم ټاکل کېږي.

وی شخص دیگری مطابق به حکم قانون تعیین میگردد.

څلور اویایمه ماده :
وزیران د وظیفې له پیله مخکې د جمهور رئیس په وړاندې، لاندینۍ لوړه کوي:

مادهٔ هفتاد و چهارم:
وزرا قبل از تصدی وظیفه حلف آتی را به حضور رئیس جمهور، به جا می آورند:

بسم الله الرحمن الرحیم

"د لوی خدای (جل جلاله) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپېڅلي دین د حکمونو حمایت، داساسي قانون او د افغانستان د نورو قوانینو رعایت، د اتباعو د حقوقو حفاظت د افغانستان د خپلواکۍ، ځمکنۍ بشپړتیا او د خلکو د ملي وحدت ساتنه وکړم او په خپلو ټولو اعمالو کې خدای (جل جلاله) حاضر گڼم او خپلې راسپارل شوې وظیفې په رښتینولۍ سرته رسوم."

بسم الله الرحمن الرحیم

"به نام خداوند بزرگ (جل جلاله) سوگند یاد می کنم که دین مقدس اسلام را حمایت، قانون اساسی و سایر قوانین افغانستان را رعایت، حقوق اتباع را حفاظت و از استقلال، تمامیت ارضی و وحدت ملی مردم افغانستان حراست کنم و در همه اعمال خود خداوند (جل جلاله) را حاضر دانسته، وظایف محوله را صادقانه انجام دهم."

پنځه اویایمه ماده :
حکومت لاندینۍ وظیفې لري:

۱- ددې اساسي قانون او نورو قوانینو د احکامو او د محکمو د قطعي پرېکړو عملي کول؛

۲- د خپلواکۍ ساتل، له ځمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع او په نړیواله ټولنه کې د افغانستان د حیثیت او

مادهٔ هفتاد و پنجم:
حکومت دارای وظایف ذیل می باشد:

۱- تعمیل احکام این قانون اساسی و سایر قوانین و فیصله های قطعی محاکم؛

۲- حفظ استقلال، دفاع از تمامیت ارضی و صیانت منافع و حیثیت افغانستان در جامعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګټهو ساتل؛

۳- د عامه نظم او امن ټينګول او د هر راز اداري فساد له منځه وړل؛

۴- د بودجې ترتيبول، د دولت د مالي وضعې تنظيمول او دعامه شتمنۍ ساتل؛

۵- دټولنيزو، فرهنګي، اقتصادي او تکنالوژيکي پرمختيايي پروګرامونو طرح او تطبيق؛

۶- ملي شورى ته د مالي کال په پاى کې د سرته رسيدلوچارو او د نوي مالي کا ل د مهمو پروګرامونو په باب ګزارش ورکول؛

۷- د هغو نورو وظيفو ترسره کول چې ددې اساسي قانون او نورو قوانينو له مخې د حکومت له وظيفو څخه ګڼل شويدي.

شپږ اويايمه ماده :

حکومت د هېواد د سياست د اساسي کرښو د تطبيق او دخپلو وظيفو د تنظيمولو لپاره مقررات وضع او تصويبوي. دا مقررات بايد د هيڅ قانون له نص يا روح سره مناقض نه وي.

بين المللى؛

۳- تأمين نظم و امن عامه و از بين بردن هر نوع فساد ادارى؛

۴- ترتيب بودجه، تنظيم وضع مالى دولت و حفاظت دارايى عامه؛

۵- طرح و تطبيق پروگرام هاى انكشافى اجتماعى، فرهنگى، اقتصادى و تكنالوژيكى؛

۶- ارائه گزارش به شوراى ملى در ختم سال مالى درباره امور انجام شده و پروگرام هاى عمدۀ سال مالى جديد ؛

۷- انجام ساير وظايفى كه به موجب اين قانون اساسى و قوانين ديگر از وظايف حكومت دانسته شده است.

مادۀ هفتاد و ششم:

حكومت براى تطبيق خطوط اساسى سياست كشور و تنظيم وظايف خود مقررات وضع و تصويب مى كند. اين مقررات بايد مناقض نص يا روح هيچ قانون نباشد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه اویایمه ماده :

وزیران خپل وظایف د اداري واحدونو د آمرینو په توګه په هغو حدودوکې چې دا اساسي قانون او نور قوانین یې ټاکي، سرته رسوي.

وزیران له خپلو ټاکلو وظایفو څخه د جمهور رئیس او ولسي جرګې په وړاندې مسئولیت لري.

اته اویایمه ماده:

که چېرې وزیر په بشري ضد جرمونو، ملي خیانت او یا په نورو جرمونو متهم شي، موضوع ددې اساسي قانون د (یو سلو څلور دیرشمې) مادې په رعایت ځانګړې محکمې ته سپارل کېږي.

نهه اویایمه ماده :

حکومت کولای شي د ولسي جرګې د تعطیل په حالت کې له بودجې او مالي چارو پرته، د بیړنۍ اړتیا پر اساس تقنیني فرمانونه ترتیب کړي.

تقنیني فرمانونه د جمهور رئیس تر توشیح وروسته د قانون حکم پیدا کوي. تقنیني فرمانونه باید د ملي شورى د لومړۍ غونډې ترجوړیدو وروسته د دیرشو ورځو په اوږدو کې

مادۀ هفتاد و هفتم:

وزرا وظایف خود را به حیث آمرین واحدهای اداری در داخل حدودی که این قانون اساسی و سایر قوانین تعیین می کند ، اجرا می نمایند .

وزرا از وظایف مشخصۀ خود نزد رئیس جمهور و ولسی جرگه مسئولیت دارند .

مادۀ هفتاد و هشتم:

هرگاه وزیر به ارتکاب جرایم ضد بشری، خیانت ملی و یا سایر جرایم متهم گردد ، قضیه با رعایت مادۀ یکصد و سی و چهارم این قانون اساسی به محکمۀ خاص محول میگردد .

مادۀ هفتاد و نهم:

حکومت می تواند در حالت تعطیل ولسی جرگه در صورت ضرورت عاجل، به استثنای امور مربوط به بودجه و امور مالی، فرامین تقنینی را ترتیب کند .

فرامین تقنینی بعد از توشیح رئیس جمهور حکم قانون را حایز می شود . فرامین تقنینی باید در خلا ل سی روز از تاریخ انعقاد نخستین جلسۀ شورای ملی به آن تقدیم شود و در

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغـې تـه ورانـدې شـي او کـه د ملـي شورى له خوا رد شي، اعتبار نه لري.

صورتی کـه از طرف شـورای ملـی رد شود ، از اعتبار ساقط میگردد .

اتيايمه ماده:
وزيـران نشـي کـولای د خپـل کـار پـه دوران کې له خپل مقام څخه په ژبنيو، سيمه ييزو، قـومي، مذهبي او گونـدي ملحوظاتو گټه واخلي.

مادۀ هشتادم:
وزرا نمـی تواننـد در زمـان تصـدی وظيفـه از مقـام خـود بـه ملحوظـات لسـانی، سـمتی، قـومی، مـذهبی و حزبی استفاده نمايند .

پنځم فصل
ملي شورى

فصل پنجم
شورای ملی

يواتيايمه ماده :
د افغـانستان د اسـلامي جمهـوري دولـت ملـي شـورى د سـتر تقنينـي اورگـان پـه توگـه د افغـانسـتـان د خلکو د ارادې ښکارندويه ده او د ټول ملت نمايندگي کوي.

مادۀ هشتاد ويکم:
شـورای ملـی دولـت جمهـوری اسلامی افغانسـتان بـه حيث عـالی تـرين ارگـان تقنينـی مظهـر ارادۀ مـردم آن اسـت و از قاطبـۀ ملـت نمايندگی می کند .

د شورى هر غړي درايې د څرگندونې پـه وخـت کـې، د افغانسـتان د خلـکو عمـومي مصلحتونه او ستري گټـې د خپل قضاوت محور ټاکي.

هـر عضو شـوری در مـوقـع اظهـار رای، مـصالـح عـمومـی و منـافع عليـای مـردم افغـانستان را مـدار قضاوت قرار می دهد .

دوه اتيايمه ماده :
مـلي شـورى لـه دوو مجلـسونو: ولسـي جـرگـې او مـشرانـو جرگـې څخه جوړه ده.

مادۀ هشتاد و دوم :
شـورای مـلی متـشکل از دو مجلس: ولـسـی جـرگـه و مشرانـو جـرگـه مـی بـاشـد .

هيڅوک نشي کولای په يوه وخت کې د دواړو مجلسونو غړی وي.

هـيچ شـخص نمـی توانـد در يـک وقت عضو هر دو مجلس باشد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دري اتيايمه ماده:

د ولسي جرګې غړي د خلکو د آزادو، عمومي، پټو او مستقيمو انتخاباتو له لارې انتخابېږي.

د ولسي جرګې د کار دوره د پنځم کال د چنګاښ په لومړۍ نېټه د انتخاباتو د نتيجو د اعلان څخه وروسته پای ته رسېږي او نوې شوری په کار پيل کوي.

د ولسي جرګې د دورې ترختمېدو د مخه له دېرشو څخه ترشپيتو ورځو پورې موده کې د ولسي جرګې د غړيو انتخابات کېږي.

د ولسي جرګې د غړيو شمير د هرې حوزې د نفوسو د شمېر په تناسب زيات نه زيات تر (۲۵۰) کسانو پورې دی.

انتخاباتي حوزې او ورسره نور مربوط مسايل د انتخاباتو په قانون کې ټاکل کېږي.

د انتخاباتو په قانون کې بايد داسې تدبيرونه ونيول شي چې انتخاباتي نظام د افغانستان د ټولو خلکو لپاره عمومي او عادلانه استازيتوب تأمين کړي او د نفوسو په تناسب دې له هر ولايت څخه په اوسط ډول لږ تر لږه دوه

مادهٔ هشتاد سوم:

اعضای ولسی جرگه توسط مردم از طريق انتخابات آزاد، عمومی، سری و مستقيم انتخاب می گردند.

دوره کار ولسی جرگه به تاريخ اول سرطان سال پنجم، بعد از اعلان نتايج انتخابات به پايان می رسد و شورای جديد به کار آغاز می نمايد.

انتخابات اعضای ولسی جرگه در خلال مدت سی الی شصت روز قبل از پايان دوره ولسی جرگه برگزار می گردد.

تعداد اعضای ولسی جرگه به تناسب نفوس هر حوزه حداکثر دو صدو پنجاه نفر می باشد.

حوزه های انتخاباتی و ساير مسايل مربوط به آن در قانون انتخابات تعيين می گردد.

در قانون انتخابات بايد تدابيری اتخاذ گردد که نظام انتخاباتی، نمايندگی عمومی و عادلانه را برای تمام مردم کشور تأمين نمايد و به تناسب نفوس از هر ولايت طور اوسط

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځينه وکيلې په ولسي جرگه کې غړيتوب ترلاسه کړي.

څلور اتيايمه ماده :
د مشرانو جرگې غړي په لاندې ډول انتخاب او ټاکل کېږي:

۱- د هرې ولايتي جرگې له غړيو څخه يوتن د مربوطې جرگې په انتخاب، د څلورو کلونو لپاره ؛

۲- د هر ولايت د ولسواليو د جرگو له غړيو څخه يو تن، د مربوطو جرگو په انتخاب، د دريو کلونو لپاره؛

۳- پاتې دريمه برخه غړي دمعلولينو او معيوبينو د دوو تنو او کوچيانو د دوو تنو استازيو په گډون د هېواد له خبيرو او تجربه لرونکو کسانو څخه د پنځو کلونو لپاره د جمهور رئيس له خوا ټاکل کېږي.

جمهور رئيس له دې اشخاصو څخه په سلو کې پنځوس ښځې ټاکي.

هغه شخص چې د مشرانو جرگې د غړي په توگه انتخابېږي په مربوطه جرگه کې خپل غړيتوب له لاسه ورکوي او د ده پرځاى د قانون له حکمونو سره

حداقل دو وکيل زن در ولسي جرگه عضويت يابد.

مادۀ هشتاد و چهارم:
اعضای مشرانو جرگه به ترتيب ذيل انتخاب و تعيين می شوند:

۱- از جمله اعضای شورای هر ولايت، يک نفر به انتخاب شورای مربوط برای مدت چهار سال؛

۲- از جملۀ اعضای شورا های ولسواليهای هر ولايت، يک نفر به انتخاب شوراهای مربوط برای مدت سه سال؛

۳- يک ثلث باقی مانده از جملۀ شخصيت های خبير و با تجربه به شمول دو نفر از نمايندگان معلولين و معيوبين و دو نفر نمايندگان کوچی ها به تعيين رئيس جمهور برای مدت پنج سال.

رئيس جمهور تعداد پنجاه فيصد از اين اشخاص را از بين زنان تعيين می نمايد.

شخصی که به حيث عضو مشرانو جرگه انتخاب می شود، عضويت خود را در شورای مربوطه از دست داده، به عوض او شخص ديگری مطابق به

(c) ketabton.com: The Digital Library

سم بل شخص ټاکل کېږي.

پنځه اتيايمه ماده :
هغه څوک چې د ملي شورى غړيتوب ته کانديد يا ټاکل کېږي، د ټاکونکو پر شرطونو سربيره، دا لاندې صفتونه هم ولري:

۱- د افغانستان تبعه وي يا لږ تر لږه د کانديديدو يا تعيين تر نېټې لس کاله پخوا يې د افغانستان د دولت تابعيت ترلاسه کړى وي؛

۲- د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو، او جنايت په ارتکاب او يا له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم شوى نه وي؛

۳- د ولسي جرګې غړيو د کانديديدو په ورځ د عمر پنځه ويشت کاله او د مشرانو جرګې غړيو د کانديديدو يا ټاکني په ورځ د عمر پنځه دېرش کاله بشپړ کړي وي.

شپږ اتيايمه ماده :
د ملي شورى د غړيو انتخاباتي وثيقې، د انتخاباتو د څارنې د خپلواک کمېسيون له خوا د قانون له حکمونو سره سم څېړل کېږي.

احکام قانون تعيين ميگردد.

مادۀ هشتاد و پنجم:
شخصی که به عضويت شورای ملی کانديد يا تعيين می شود، علاوه بر تکميل شرايط انتخاب کنندگان واجد اوصاف ذيل می باشد:

۱- تبعۀ افغانستان بوده يا حداقل ده سال قبل از تاريخ کانديد يا تعيين شدن تابعيت دولت افغانستان را کسب کرده باشد؛

۲- از طرف محکمه به ارتکاب جرايم ضد بشری، جنايت و يا حرمان از حقوق مدنی محکوم نشده باشد؛

۳- اعضای ولسی جرگه سن بيست و پنج سالگی را در روز کانديد شدن و اعضای مشرانو جرگه سن سی و پنج سالگی را در روز کانديد يا تعيين شدن تکميل کرده باشند.

مادۀ هشتاد و ششم:
وثايق انتخاباتی اعضای شورای ملی توسط کميسيون مستقل انتخابات مطابق به احکام قانون تدقيق می گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوه اتیایمه ماده :
د ملي شورى له دواړو جرګو څخه هره يوه دکار د دورې په پيل کې له خپلو غړيو څخه يو تن د رئيس په توګه د يوې تقنيني دورې لپاره، دوه تنه د لومړي نايب او دويم نايب او دوه تنه د منشي او د منشي د نايب په توګه، د يوکال لپاره انتخابوي.

دا اشخاص د ولسي جرګې او مشرانو جرګې اداري هيئت جوړوي.

د اداري هيئت وظيفې د هرې جرګې د داخلي وظايفو په اصولو کې ټاکلي کېږي.

مادۀ هشتاد و هفتم :
هر يک از دو مجلس شوراى ملى، در آغاز دورۀ کار، يک نفر از اعضاى خود را به حيث رئيس براى يک دوره تقنينيه و دو نفر را به حيث نايب اول و نايب دوم و دو نفر را به حيث منشى و نايب منشى براى مدت يکسال انتخاب مى کند.

اين اشخاص هيئت ادارى ولسى جرگه و مشرانو جرگه را تشکيل مى دهند.

وظايف هيئت ادارى در اصول وظايف داخلى هر مجلس تعيين مى شود.

اته اتیایمه ماده:
د ملي شورى له، دواړو جرګو څخه هره يوه د بحث وړ موضوعاتو د کتنې لپاره د داخلي وظايفو د اصولو له مخې کمېسيونونه جوړوي.

مادۀ هشتاد و هشتم:
هر يکى از دو مجلس شوراى ملى براى مطالعه موضوعات مورد بحث، بر طبق اصول وظايف داخلى، کميسيون ها تشکيل مى دهد.

نهه اتیایمه ماده :
ولسي جرګه واک لري د غړيو د دريمې برخې په پيشنهاد، د حکومت د اعمالو د څېړنې او کتنې لپاره، يو ځانګړى کمېسيون و ټاکي.

مادۀ هشتاد و نهم:
ولسى جرگه صلاحيت د ارد به پيشنهاد يک ثلث اعضا، جهت بررسى و مطالعۀ اعمال حکومت، کميسيون خاص تعيين نمايد.

ددې کمېسيون جوړښت او کړنلاره د ولسي جرګې د داخلي وظايفو په اصولو کې تنظيمېږي.

ترکيب و طرز العمل اين کميسيون در اصول وظايف داخلى ولسى جرگه تنظيم مى گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي يمه ماده :

ملـــي شـــورى دا لانـــدې واكـــونه لـري:

۱- د قوانينـو او تقنينـي فرمـانونو تصويب، تعديل يا لغو كول؛

۲- د ټولنيزو، فرهنگي، اقتصادي او تـكنـالـوژيـكـي پرمختيـايي پروگرامونو تصويب؛

۳- د دولتي بـودجې تصويب او د پـور اخيستو يا وركولو اجازه؛

۴- د اداري واحـدونو منځتـه راوړل، تعديل او يا لغو كول؛

۵- د دولـــتونو تـرمنځ د تړونونـو او بين المللي ميثاقونو تصديق او يا لـه هغو څخه د افغانستان بيلول؛

۶- پـه دي اساسـي قـانون كـې نـور مندرج واكونه.

يونوي يمه ماده :

ولـسـي جـرگـه لانـدې ځانگـړي واكونه لري:

۱- لـه هـر يـوه وزيـر څخـه د استيـضاح پـه برخـه كې ددې اساسي قـانون د دوه نـوي يمې مـادې لـه حكم سره سم تصميم نيول؛

مادهٔ نودم:

شـوراى ملـى داراى صلاحيتهـاى ذيـل ميباشد:

۱- تصويب، تعديل يا لغو قوانين و يا فرامين تقنينى؛

۲- تـصويـب پـروگرامهـاى انـكشافى اجتمـاعى، فرهنگـى، اقتصادى وتكنالوژيكى؛

۳- تصويب بودجهٔ دولتى و اجازه اخذ يا اعطاى قرضه؛

۴- ايجاد واحدهاى ادارى، تعديل و يا الغاى آن؛

۵- تصديـق معاهـدات و ميثاقهـاى بين المللـى يـا فسخ الحاق افغانستان به آن؛

۶- سـاير صـلاحيتهاى منـدرج ايـن قانون اساسى.

مادهٔ نود و يكم:

ولسـى جرگـه داراى صـلاحيتهاى اختصاصى ذيل مى باشد:

۱- اتخـاذ تصـميم در مـورد استيضاح از هـر يک از وزرا مطابق بـه حكم مـادهٔ نـود و دوم ايـن قانون اساسى؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د پرمختيايي پروگرامونو او دولتي بودجې په باب تصميم نيول؛

۳- ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم د مقرريو تاييد يا ردول؛

دوه نوي يمه ماده :
ولسي جرگه د ټولو غړيو د شلو فيصدو په پيشنهاد کولای شي، له هر يوه وزير څخه استيضاح وکړي.

که وړاندې شوې توضيح د قناعت وړ نه وي، ولسي جرگه د نه باور د رای موضوع څېړي.

په وزير باندې د نه باور رايه بايد صريحه، مستقيمه او پر پخو دلايلو ولاړه وي، دغه رايه د ولسي جرگې د ټولو غړيو د رايو په اکثريت صادرېږي.

دري نوي يمه ماده :
د ملي شوری د دواړو جرگو هر يو کمېسيون کولای شي له هر يوه وزير څخه په ټاکلو موضوعاتو کې پوښتنې وکړي.

هغه څوک چې پوښتنه ترې شوې کولای شي شفاهي يا ليکلي ځواب ورکړي.

۲- اتخاذ تصميم راجع به پروگرامهای انکشافی و بودجهٔ دولتی؛

۳- تائيد يا رد مقرريها مطابق به احکام اين قانون اساسی؛

مادهٔ نود و دوم:
ولسی جرگه به پيشنهاد بيست فيصد کل اعضا ، می تواند از هر يک از وزرا استيضاح به عمل آورد .

هرگاه توضيح ارائه شده قناعت بخش نباشد ، ولسی جرگه موضوع رای عدم اعتماد را بررسی می کند .

رای عدم اعتماد از وزير بايد صريح، مستقيم و بر اساس دلايل مؤجه باشد . اين رای به اکثريت ارای کل اعضای ولسی جرگه صادر ميگردد .

مادهٔ نود و سوم:
هر يک از کميسيونهای هر دو مجلس شورای ملی می تواند از هر يک از وزرا در موضوعا ت معين سوال نمايد .

شخصی که از او سوال به عمل آمده، می تواند جواب شفاهی يا تحريری بدهد .

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور نوي يمه ماده :

قانون هغه مصوبه ده چې د ملي شورى د دواړو جرګو له خوا تصويب او د جمهور رئيس له خوا توشيح شوې وي، مګر دا چې په دې اساسي قانون کې بل ډول څرګنده شوې وي.

که جمهور رئيس د ملي شورى له مصوبي سره موافقه ونه لري کولاى شي چې د وړاندې کېدو تر نېټې وروسته يې په پنځلسو ورځو کې د دلايلو له ښوولو سره ملي شورى ته مسترده کړي. ددې وخت په تېرېدو او يا دا چې ولسي جرګه يو ځل بيا هغه د ټولو غړيو له دريوو برخو څخه په دوو برخو رايو تصويب کړي، مصوبه توشيح شوې ګڼله کېږي او نافذ يږي.

پنځه نوي يمه ماده :

د قانون د طرحې پيشنهاد د حکومت يا دشورى د غړيو او دقضايي چارو د تنظيم په برخه کې د سترې محکمې له خوا د حکومت له لارې وړاندې کېداى شي.

د بودجې او مالي چارو په برخه کې د قانون د طرحې پيشنهاد يوازې د حکومت له خوا کيږي.

مادهٔ نود و چهارم :

قانون عبارت است از مصوبه هر دو مجلس شورای ملی که به توشیح رئیس جمهور رسیده باشد، مگر اینکه در این قانون اساسی طور دیگری تصریح گردیده باشد.

در صورتیکه رئیس جمهور با مصوبهٔ شورای ملی موافقه نداشته باشد می تواند آنرا در ظرف پانزده روز از تاریخ تقدیم با ذکر دلایل به ولسی جرگه مسترد نماید. با سپری شدن این مدت و یا در صورتی که ولسی جرگه آنرا مجدداً با دو ثلث آرای کل اعضا تصویب نماید، مصوبه توشیح شده محسوب و نافذ میگردد.

مادهٔ نود وپنجم:

پیشنهاد طرح قانون از طرف حکومت یا اعضای شوری و در ساحه تنظیم امور قضایی از طرف ستره محکمه توسط حکومت صورت گرفته می تواند.

پیشنهاد طرح قانون در مورد بودجه و امور مالی صرف از طرف حکومت صورت میگیرد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شپږ نوي یمه ماده :

که د قانون د طرحې پیشنهاد پر دولت د نوي تکلیف یا د عایداتو د لږولو لرونکی وي، په دې شرط د کار په فهرست کې نیول کېږي چې د پیشنهاد په متن کې د جبرانولو مدرک هم پیشبیني شوی وي.

مادهٔ نود و ششم:

هرگاه پیشنهاد طرح قانون حاوی تکلیف جدید یا تنقیص در عایدات دولت باشد، به شرطی در فهرست کار داخل می شود که در متن پیشنهاد، مدرک جبران نیز پیش بینی شده باشد.

اوه نوي یمه ماده :

د حکومت له خوا د قانون د طرحې پیشنهاد لومړی ولسي جرگې ته وړاندې کېږي.

ولسي جرگه د بودجې او مالي چارو په شمول د قانون د طرحې پیشنهاد او د پور اخیستو او یا ورکولو پیشنهاد له بحث وروسته دیو کل په توگه تصویب یا ردوي.

ولسي جرگه نشي کولای وړاندې شوې طرح تر یوې میاشتې زیات وځنډوي.

ولسي جرگه د پیشنهاد شوي قانون طرح تر تصویب وروسته مشرانو جرگې ته سپاري.

مشرانو جرگه د پنځلسو ورځو په اوږدو کې د هغه په باره کې تصمیم نیسي.

مادهٔ نود و هفتم:

پیشنهاد طرح قانون از طرف حکومت نخست به ولسی جرگه تقدیم می گردد.

ولسی جرگه پیشنهاد طرح قانون را، به شمول بودجه و امور مالی و پیشنهاد اخذ و یا اعطای قرضه را، بعد از بحث به صورت یک کل تصویب یا رد می کند.

ولسی جرگه نمی تواند طرح پیشنهاد شده را بیش از یک ماه به تاخیر اندازد.

ولسی جرگه طرح قانون پیشنهاد شده را بعد از تصویب به مشرانو جرگه می سپارد.

مشرانو جرگه در ظرف پانزده روز در مورد آن تصمیم اتخاذ می کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي شوری د دولت د هغو قوانينو، معاهدو او پرمختيايي پروگرامونو په باره کې تصميم نيولو ته لومړيتوب ورکوي چې د حکومت د وړانديز په بنسټ د عاجل غور غوښتنه کوي.

شورای ملی به اتخاذ تصميم در مورد طرح قوانين، معاهدات و پروگرامهای انکشافی دولت که به اساس پيشنهاد حکومت ايجاب رسيدگی عاجل را نمايد اولويت می دهد.

که چيرې د قانون د طرحې پيشنهاد له دواړو جرگو څخه ديوې د لسو غړيو له خوا وشي، پيشنهاد د نوموړې جرگې د يو پر پنځمې برخې غړيو تر تائيد وروسته د هماغې جرگې د کار په فهرست کې نيول کېږي.

هرگاه پيشنهاد طرح قانون از طرف ده نفر از اعضای يکی از دو مجلس صورت گيرد، بعد از تائيد يک پنجم اعضای مجلسی که پيشنهاد به آن ارائه شده است، در فهرست کار آن مجلس داخل ميگردد.

اته نوي يمه ماده :

د دولت بودجه او د حکومت پرمختيايي پروگرام د مشرانو جرگې له لياري ددې جرگې له مشورتي نظريي سره يوځای ولسي جرگې ته سپارل کېږي.

مادۀ نود و هشتم:

بودجۀ دولت و پروگرام انکشافی حکومت از طريق مشرانو جرگه توأم با نظريۀ مشورتی آن به ولسی جرگه تقديم می شود.

د ولسي جرگې تصميم د جمهور رئيس تر توشيح وروسته، مشرانو جرگې ته تر وړاندي کېدو پرته، نافذ گڼل کېږي.

تصميم ولسی جرگه بدون ارائه به مشرانو جرگه بعد از توشيح رئيس جمهور نافذ شمرده می شود.

که چېرې د ځينو عواملو له مخې د مالي کال تر پيل مخکې بودجه تصويب نشي، د نوې بودجې تر تصويب پورې، د تېر کال بودجه تطبيقېږي.

هرگاه نظر به عواملی تصويب بودجه قبل از آغاز سال مالی صورت نگيرد، تا تصويب بودجه جديد، بودجۀ سال گذشته تطبيق ميگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکومت د مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې د راتلونکي کال بودجه د روان کال د بودجې له اجمالي حساب سره ملي شورى ته وړاندې کوي . د تېر مالي کال د بودجې قطعي حساب د راتلونکي کال د شپږو مياشتو په موده کې د قانون له حکمونو سره سم ملي شورى ته وړاندې کېږي.

ولسي جرګه نشي کولاى د بودجې تصويب له يوې مياشتې څخه زيات او د هغه پور د اخيستو او ورکولو اجازه چې په بودجه کې شامل نه وي، تر پنځلس ورځو زيات وځنډوي.

که چېرې ولسي جرګه په دغه موده کې د پور د اخيستو او ورکولو د پيشنهاد په اړه تصميم ونه نيسي، پيشنهاد تصويب شوى ګڼل کېږي.

نهه نوي يمه ماده :

که چېرې د ملي شورى په اجلاس کې کلنۍ بودجه يا پرمختيايي پروګرام يا له عامه امنيت، دهېواد له خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتيا سره مربوطه موضوع تر خبرو لاندې وي، د شورى د اجلاس موده د هغې تر تصويب مخکې پاى ته نشي رسېدلاى.

حکومت در خلال ربع چهارم سال مالی، بودجۀ سال آینده را با حساب اجمالی بودجه سال جاری به شورای ملی تقدیم می نماید. حساب قطعی بودجه سال مالی قبل، در خلال مدت شش ماه سال آینده، مطابق به احکام قانون، به شورای ملی تقدیم میگردد.

ولسی جرگه نمی تواند تصویب بودجه را بیش از یکماه و اجازه اخذ و یا اعطای قرضه را که شامل بودجه نباشد، بیش از پانزده روز به تأخیر اندازد.

هرگاه ولسی جرگه در این مدت راجع به پیشنهاد اخذ و یا اعطای قرضه تصمیم اتخاذ نکند، پیشنهاد تصویب شده محسوب میگردد.

مادۀ نود و نهم:

در صورتی که در اجلاس شورای ملی، بودجه سالانه یا پروگرام انکشافی یا موضوع مربوط به امنیت عامه، تمامیت ارضی و استقلال کشور مطرح باشد مدت اجلاس شوری قبل از تصویب آن خاتمه یافته نمی تواند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلمه ماده:
که چېرې د بوې جرگې مصوبه د بلې جرگې له خوا رد شي، د اختلاف د له منځه وړلو لپاره د دواړو جرگو د غړيو له خوا په برابر شمير گډ هيئت تاکل کېږي.

د هيئت پريکړه د جمهور رئيس تر توشيح وروسته نافذه گڼل کېږي. که گډ هيئت ونه کړای شي د نظر اختلاف له منځه يوسي، تصويب رد شوي گڼل کېږي. په دې حالت کې ولسي جرگه کولای شي په خپله وروسې غونډه کې هغه د خپلو ټولو غړيو له دريو څخه د دوو برخو د رايو په اکثريت تصويب کړي. دا تصويب بې له دې چې مشرانو جرگې ته وړاندې شي، د جمهور رئيس تر توشيح وروسته نافذ گڼل کېږي.

مادهٔ صدم:
هرگاه مصوبهٔ یک مجلس از طرف مجلس دیگر رد شود، برای حل اختلاف هیئت مختلط به تعداد مساوی از اعضای هر دو مجلس تشکیل می گردد.

فیصله هیئت بعد از توشیح رئیس جمهور، نافذ شمرده میشود. در صورتیکه هیئت مختلط نتواند اختلاف نظر را رفع کند، مصوبه رد شده به حساب می رود. در این حالت ولسی جرگه می تواند در جلسهٔ بعدی آنرا با دو ثلث آرای کل اعضا تصویب کند. این تصویب بدون ارائه به مشرانو جرگه بعد از توشیح رئیس جمهور نافذ شمرده می شود.

يو سلو يوومه ماده :
د ملي شورى هيڅ غړى د هغې رايې يا نظريې له امله چې د وظيفې د اجرا په وخت کې يې څرگندوي، تر عدلي تعقيب لاندې نه نيول کېږي.

مادهٔ یکصد و یکم:
هیچ عضو شورای ملی به علت رای یا نظریه ای که در هنگام اجرای وظیفه ابراز می دارد مورد تعقیب عدلی قرار نمی گیرد.

يوسلو دوه يمه ماده :
که د ملي شورى غړى په يوه جرم متهم شي، مسئول مامور له موضوع څخه هغې جرگې ته چې متهم يې غړى دى، خبر ورکوي او متهم تر عدلی تعقيب

مادهٔ یکصد و دوم:
هرگاه عضو شورای ملی به جرمی متهم شود، مامور مسئول از موضوع به مجلسی که متهم عضو آن است اطلاع می دهد و متهم تحت تعقیب

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاندې راتلای شي.

د مشهود جرم په مورد کې، مسئول مامور کولای شي متهم د هغې جرگې له اجازې پرته چې دی یې غړی دی تر عدلي تعقیب لاندې راولي او وي نیسي.

په دواړو حالاتو کې که عدلي تعقیب د قانون له مخې د توقیف ایجاب وکړي، مسئول مامور مکلف دی چې له موضوع څخه بې له ځنډه نوموړې جرگې ته خبر ورکړي او تصویب یې ترلاسه کړي.

که اتهام د شورى د رخصتۍ په وخت کې رامنځ ته شي، د نیولو او توقیف اجازه د مربوطې جرگې له اداري هیئت څخه ترلاسه کېږي او موضوع د نوموړې جرگې لومړنۍ غونډې ته د تصمیم نیولو لپاره وړاندې کېږي.

یوسلو دریمه ماده :

وزیران کولای شي د ملي شورى له دوو جرگو څخه د هرې یوې په غونډو کې گډون وکړي.

د ملي شورى هره جرگه کولای شي خپلې غونډې ته د وزیرانو د حاضریدو غوښتنه وکړي.

عدلی قرار گرفته می تواند.

در مورد جرم مشهود، مامور مسئول می تواند متهم را بدون اجازه مجلسی که او عضو آن می باشد تحت تعقیب عدلی قرار دهد و گرفتار نماید.

در هر دو حالت، هرگاه تعقیب عدلی قانوناً توقیف را ایجاب کند، مامور مسئول مکلف است موضوع را بلا فاصله به اطلاع مجلس مربوط برساند وتصویب آنرا حاصل نماید.

اگر اتهام در هنگام تعطیل شوری صورت بگیرد، اجازۀ گرفتاری یا توقیف از هیئت اداری مجلس مربوط حاصل می گردد و موضوع به نخستین جلسۀ مجلس مذکور جهت اخذ تصمیم ارائه می شود.

مادۀ یکصد وسوم:

وزرا می توانند در جلسات هر یک از دو مجلس شورای ملی اشتراک ورزند.

هر مجلس شورای ملی می تواند حضور وزرا را در جلسۀ خود مطالبه کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوسلو څلورمه ماده :
د ملـــي شـــوری دواړې جرګـــې پـه عيـــن وخـت کـــې، بېـــل بېـــل مجلسونه کوي.

د دواړو جرګو ګډې غونډې په لاندې حالاتو کې جوړېدلای شي:

۱- کله چې تقنینیه دوره یا کلنۍ غونـــډه د جمهـــور رئـــیس لـــه خـــوا پرانیستل کېږي؛

۲- په هغه صورت کې چې جمهور رئیس یې ضروري تشخیص کړي؛

د ولســـي جـرګـــي رئیـــس د مـلـــي شــوری د ګـډو غـــونډو مـشري کوي.

مادۀ یکصدو چهارم:
هر دو مـجلس شـورای ملی در وقت واحـد بـــه صــورت جدا گانـــه جلسه می کنند.

جلسات هردو مجلس در موارد ذیل می تواند به طور مشترک دایر شود:

۱- در مـوقعی کـه دورۀ تقنینیه یـا اجلاس سالانه از طرف رئیس جمهور افتتاح می گردد؛

۲- در صـــورتیکه رئـــیس جمهـــور ضروری تشخیص دهد؛

رئیـس ولـسی جـرګـه، از جلسات مشـترک شـورای مـلـی ریاست می نـــماید.

یوسلو پنځمه ماده :
د ملي شوری غونډې علني دي، مګر دا چې د مجلس رئیس یا لږ تر لږه د ملي شوری لس تنه غړي يې د سري توب پيشـنهاد وکـړي او جرګـه دا پیشنهاد ومني.

هېڅوک نشي کولای چې په زور د ملي شوری ودانۍ ته ننوزي.

مادۀ یکصدوپنجم:
جلسات شورای ملی علنی می باشد مگر اینکه رئیس مجلس یا حد اقل ده نفر از اعضای شورای ملی، سری بودن آنرا درخواست نمایند و مجلس این درخوست را بپذیرد.

هیچ شخصی نمی تواند عنفاً به مقر شورای ملی داخل شود.

یوسلو شپږمه ماده :
د ملي شوری د هر مجلس نصاب د

مادۀ یکصد و ششم:
نصاب هر یک از دو مجلس شورای

(c) ketabton.com: The Digital Library

رایو د اخیستو په وخت کې د هرې جرګې د غړیو د اکثریت په حضور بشپړېږي او تصمیمونه یې د حاضرو غړیو د رایو په اکثریت نیول کېږي، مګر په هغو مواردو کې چې دې اساسي قانون بل ډول تصریح کړې وي.

ملی، هنگام رای گیری با حضور اکثریت اعضا تکمیل می گردد و تصامیم آن با اکثریت آرای اعضای حاضر اتخاذ می شود، مگر در مواردی که این قانون اساسی طور دیگری تصریح نموده باشد.

یوسلو اوومه ماده :

ملي شوری په کال کې دوې عادي غونډې دایروي.

مادۀ یکصد و هفتم:

شورای ملی در هر سال دو اجلاس عادی دایر می کند.

د ملي شوری د دواړو جرګو د غونډو د کار موده په کا ل کې نهه میاشتې ده. د اړتیا په وخت کې شوری کولای شي دا موده اوږده کړي.

مدت کار هر دو اجلاس شورای ملی، در هر سال نه ماه می باشد. در صورت ایجاب، شوری می تواند این مدت را تمدید کند.

د رخصتیو په ورځو کې د ملي شوری فوق العاده غونډې د جمهور رئیس په امر دایرېدای شي.

جلسات فوق العاده شورای ملی در ایام تعطیل به امر رئیس جمهور دایر شده می تواند.

یوسلو اتمه ماده :

د ملي شوری د غړي د مړینې، استعفی، عزل او یا د داسي معلولېدو او معیوبېدو په صورت کې چې په دایمي توګه د وظیفي د اجراء خنډ شي، د پاتې تقنینیه دورې لپاره د نوي استازي تعیین د قانون له حکمونو سره سم ترسره کېږي.

مادۀ یکصد و هشتم:

در حالات وفات، استعفا و عزل عضو شورای ملی و یا معلولیت یا معیوبیتی که به طور دایم مانع اجرای وظیفه گردد، تعیین نماینده جدید برای مدت باقی مانده دورۀ تقنینیه، مطابق به احکام قانون صورت میگیرد.

د ملي شوری د غړیو د حاضرېدو یا نه راتلو سره مربوطې چارې د داخلي

امور مربوط به حضور و غیاب اعضای شورای ملی در اصول وظایف

(c) ketabton.com: The Digital Library

وظايفو په اصولو کې تنظيمېږي.

داخلی تنظيم می گردد.

يوسلو نهمه ماده :
د تقنينيه دورې په وروستني يوکال کې د انتخاباتو د قانون د بدلېدو پيشنهاد د ملي شورى د کار په فهرست کې نشي نيول کېدلای.

مادۀ يکصد ونهم:
پيشنهاد تعديل قانون انتخابات، در يک سال اخير دورۀ تقنينيه در فهرست کار شورای ملی داخل شده نمی تواند.

شپږم فصل
لويه جرگه

فصل ششم
لويه جرگه

يوسلو لسمه ماده :
لويه جرگه د افغانستان د خلکو د ارادې تر ټولو ستر مظهر دی.

لويه جرگه:

۱- د ملي شورى له غړيو؛

۲- د ولايتونو او ولسواليو د جرگو له رئيسانو جوړېږي؛

وزيران، د سترې محکمې رئيس او غړي او لوي څارنوال کولای شي د لويې جرگې په غونډو کې بې له دې چې د رايې ورکولو حق ولري گډون وکړي.

مادۀ يکصد و دهم:
لويه جرگه عالی ترين مظهر اراده مردم افغانستان می باشد.

لويه جرگه متشکل است از:

۱- اعضای شورای ملی؛

۲- رؤسای شوراهای ولايات و ولسواليها؛

وزرا، رئيس و اعضای ستره محکمه و لوی ثارنوال می توانند در جلسات لويه جرگه بدون حق رای اشتراک ورزند.

يو سلو يوولسمه ماده:
لويه جرگه په لاندينيو حالاتو کې دايرېږي:

مادۀ يکصد و يازدهم:
لويه جرگه در حالات ذيل داير ميگردد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د هېواد دخپلواکۍ، ملي حاکميت، ځمکنۍ بشپړتيا او سترو مصلحتونو پورې د مربوطو چارو په باب تصميم نيول؛

۲- د دې اساسي قانون د حکمونو تعديل؛

۳- د دې اساسي قانون د (نهه شپيتمې) مادې له مخې د جمهور رئيس محاکمه کول؛

يوسلو دولسمه ماده:
لويه جرگه په لومړۍ غونډه کې، د غړيو له منځه يو تن د رئيس، يو تن د مرستيال او دوه تنه د منشي او نايب منشي په توگه ټاکي.

يو سلو ديار لسمه ماده :
د لويې جرگې نصاب د رايې اخيستو په وخت کې د غړيو په اکثريت سره بشپړېږي.

د لويې جرگې تصميمونه، له هغو مواردو پرته چې په دې اساسي قانون کې صريحاً ذکر شوي، د ټولو غړيو د رايو په اکثريت، نيول کېږي.

يوسلو څوار لسمه ماده :
د لويې جرگې بحثونه علني دي، مگر

۱- اتخاذ تصميم در مورد مسايل مربوط به استقلال، حاکميت ملی، تماميت ارضی و مصالح عليای کشور؛

۲- تعديل احکام اين قانون اساسی؛

۳- محاکمۀ رئيس جمهور مطابق به حکم مندرج مادۀ شصت و نهم اين قانون اساسی؛

مادۀ يکصدو دوازدهم:
لويه جرگه در اولين جلسه، از ميان اعضا يک نفر را به حيث رئيس و يک نفر را به حيث معاون و دو نفر را به حيث منشی و نايب منشی انتخاب می کند.

مادۀ يکصد و سيزدهم:
نصاب لويه جرگه هنگام رای دهی، با حضور اکثريت اعضا تکميل ميگردد.

تصاميم لويه جرگه، جز در مواردی که در اين قانون اساسی صريحاً ذکر گرديده، با اکثريت آرای کل اعضا اتخاذ ميگردد.

مادۀ يکصد و چهاردهم:
مباحثات لويه جرگه علنی می باشد

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې د غړیو څلورمه برخه یې د سریتوب غوښتنه وکړي او لویه جرګه دا غوښتنه ومني.

یوسلو پنځلسمه ماده :
د لويې جرګې د جريان په وخت کې ددې اساسي قانون (ديوسلويوومې) او (يوسلودويمې) مادې مندرج احکام د هغې د غړيو په باب تطبيقيږي.

اووم فصل
قضاء

یوسلو شپاړسمه ماده:
قضائيه قوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت خپلواک رکن دی.

قضائيه قوه له يوې سترې محکمې، د استيناف له محکمو او ابتدائيه محکمو څخه جوړه ده چې تشکيلات او واکونه يې د قانون له لياري تنظيميږي.

ستره محکمه د ستر قضايي اورګان په توګه د افغانستان د اسلامي جمهوريت د قضائيه قوې په سرکې ځای لري.

یوسلو اوه لسمه ماده:
ستره محکمه نهه تنه غړي لري

مگر اینکه یک ربع اعضا سری بودن آنرا در خواست نمایند و لویه جرگه این درخواست را بپذیرد.

ماه یکصد و پانزدهم:
در هنگام دایر بودن لویه جرگه، احکام مندرج مواد یکصد و یکم و یکصد و دوم این قانون اساسی، در مورد اعضای آن تطبیق میگردد.

فصل هفتم
قضاء

مادۀ یکصد و شانزدهم:
قوۀ قضائیه رکن مستقل دولت جمهوری اسلامی افغانستان می باشد.

قوۀ قضائیه مرکب است از یک ستره محکمه، محاکم استیناف و محاکم ابتدائیه که تشکیلات و صلاحیت آنها توسط قانون تنظیم میگردد.

ستره محکمه به حیث عالیترین ارگان قضایی در راس قوۀ قضائیه جمهوری اسلامی افغانستان قرار دارد.

مادۀ یکصد و هفدهم:
ستره محکمه مرکب است از نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د جمهور رئیس له خوا د ولسي جرگې په تایید او ددې اساسي قانون د (پنځوسمې) مادې د وروستۍ فقرې او د (یوسلو اتلسمې) مادې د حکمونو په رعایت، په پیل کې په دې ترتیب ټاکل کیږي:

عضو که از طرف رئیس جمهور با تائید ولسی جرگه و با رعایت احکام مندرج فقرهٔ آخر مادهٔ پنجاهم و مادهٔ یکصد و هجدهم این قانون اساسی در آغاز به ترتیب ذیل تعیین میگردند:

درې تنه د څلورو کلونو لپاره، درې تنه د اوو کلونو لپاره او درې تنه د لسو کلونو لپاره.

سه نفر برای مدت چهار سال، سه نفر برای مدت هفت سال و سه نفر برای مدت ده سال.

وروستۍ ټاکنې د لسو کلونو لپاره دي.

تعیینات بعدی برای مدت ده سال می باشد.

د غړیو ټاکل د دوهم ځل لپاره جواز نه لري.

تعیین اعضا برای بار دوم جواز ندارد.

جمهور رئیس د سترې محکمې یو غړی د سترې محکمې د رئیس په توگه ټاکي.

رئیس جمهور یکی از اعضا را به حیث رئیس ستره محکمه تعیین می کند.

د سترې محکمې غړي ددې اساسي قانون په (یوسلو اوه ویشتمې) مادې کې له راغلي حالت پرته، د خدمت د دورې تر پایه له خپلو وظیفو څخه نه عزلیږي.

اعضای ستره محکمه به استثنای حالت مندرج مادهٔ یکصد و بیست و هفتم این قانون اساسی، تا ختم دورهٔ خدمت از وظایف شان عزل نمی شوند.

یوسلو اتلسمه ماده :

د سترې محکمې غړی باید لاندیني شرایط ولري:

مادهٔ یکصد و هجدهم:

عضو ستره محکمه واجد شرایط ذیل می باشد:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د ټاکلو په وخت کې د رئیس او غړیو عمر تر څلویښتو کلو لږ نه وي؛

۲- د افغانستان تبعه وي؛

۳- په حقوقي یا فقهي علومو کې لوړې زده‌کړې او د افغانستان په قضایي نظام کې تخصص او کافي تجربه ولري؛

۴- د ښه سیرت او نیک شهرت لرونکی وي؛

۵- د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنایت په ارتکاب او یا له مدني حقوقو څخه په محرومیت محکوم شوی نه وي؛

۶- د وظیفې د تصدي په وخت کې په هیڅ سیاسي ګوند کې غړیتوب ونه لري.

یوسلو نولسمه ماده :
د سترې محکمې غړي د وظیفي تر پیل مخکې، د جمهور رئیس په وړاندې دا لوړه کوي:

بسم الله الرحمن الرحيم

"د لوی خدای (ج) په نامه لوړه کوم چې د اسلام د سپیڅلي دین له احکامو، په دې اساسي قانون او

۱- سن رئیس و اعضا در حین تعیین از چهل سال کمتر نباشد ؛

۲- تبعهٔ افغانستان باشد ؛

۳- در علوم حقوقی و یا فقهی تحصیلات عالی و در نظام قضایی افغانستان تخصص و تجربهٔ کافی داشته باشد ؛

۴- دارای حسن سیرت و شهرت نیک باشد ؛

۵- از طرف محکمه به ارتکاب جرایم ضد بشری، جنایت و یا حرمان از حقوق مدنی محکوم نشده باشد ؛

۶- در حال تصدی وظیفه در هیچ حزب سیاسی عضویت نداشته باشد.

مادهٔ یکصد و نزدهم:
اعضای ستره محکمه قبل از اشغال وظیفه، حلف آتی را در حضور رئیس جمهور به جا می آورند:

بسم الله الرحمن الرحيم

"به نام خداوند بزرگ (ج) سوگند یاد می کنم که حق و عدالت را بر طبق احکام دین مقدس اسلام،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو قوانینو کې له راغلو نصوصو سره سم حق او عدالت تأمین او د قضاء وظیفه په بشپړ امانت، صداقت او بې طرفۍ اجراء کړم."

یوسلو شلمه ماده :
د قضائیه قوی په صلاحیت کې په ټولو هغو دعوو غور شامل دی، چې د دولت په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصو له خوا د مدعي یا مدعي علیه په حیث د قانون له حکمونو سره سم د محکمې په وړاندې اقامه شي.

یوسلو یو ویشتمه ماده :
له اساسي قانون سره د قوانینو، تقنیني فرمانونو، بین الدول معاهدو او بین المللي میثاقونو د مطابقت څېړل، د حکومت یا محاکمو په غوښتنه او د هغو تفسیر د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحیت دی.

یوسلو دوه ویشتمه ماده :
هېڅ قانون نشي کولای په هېڅ حال کې، کومه قضیه یا ساحه په څه ډول چې په دې فصل کې تحدید شوې د قضائیه قوې له صلاحیت څخه و باسي او بل مقام ته یې وسپاري.

دا حکم د هغو خاصو محکمو چې

نصوص این قانون اساسی و سایر قوانین افغانستان تأمین نموده، وظیفه قضاء را با کمال امانت، صداقت و بی طرفی اجرا نمایم."

مادۀ یکصد و بیستم:
صلاحیت قوه قضائیه شامل رسیدگی به تمام دعاویی است که از طرف اشخاص حقیقی یا حکمی، به شمول دولت، به حیث مدعی یا مدعی علیه در پیشگاه محکمه مطابق به احکام قانون اقامه شود.

مادۀ یکصد و بیست و یکم:
بررسی مطابقت قوانین، فرامین تقنینی، معاهدات بین الدول و میثاق های بین المللی با قانون اساسی و تفسیر آنها بر اساس تقاضای حکومت و یا محاکم، مطابق به احکام قانون از صلاحیت ستره محکمه می باشد.

مادۀ یکصد و بیست و دوم:
هیچ قانون نمی تواند در هیچ حالت، قضیه یا ساحه یی را از دایرۀ صلاحیت قوۀ قضائیه به نحوی که در این فصل تحدید شده، خارج بسازد و به مقام دیگر تفویض کند.

این حکم مانع تشکیل محاکم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې اساسي قانون په (نهه شپیتمې، اته اویایمې او یوسلواوه ویشتمې) مادو کې راغلې او په مربوطو قضیو کې د نظامي محکمو د تشکیل مانع نه گرځي.

خاص مندرج مواد شصت و نهم، هفتاد و هشتم و یکصد و بیست و هفتم این قانون اساسی و محاکم عسکری در قضایای مربوط به آن نمیگردد.

د دې ډول محکمو تشکیل او صلاحیت د قانون له لیارې تنظیمېږي.

تشکیل و صلاحیت این نوع محاکم توسط قانون تنظیم میگردد.

یوسلو در ویشتمه ماده :

ددې اساسي قانون د حکمونو په رعایت، د محکمو په تشکیل، صلاحیت او اجراآتو پورې مربوط قواعد او په قاضیانو پورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظیمېږي.

مادهٔ یکصد و بیست و سوم:

با رعایت احکام این قانون اساسی، قواعد مربوط به تشکیل، صلاحیت و اجراآت محاکم و امور مربوط به قضات توسط قانون تنظیم میگردد.

یوسلو څلیر ویشتمه ماده:

د قضائیه قوې د مامورینو او نورو اداري کارکوونکیو په برخه کې، د دولت د مامورینو او نورو اداري کار کوونکیو د مربوطو قوانینو حکمونه نافذ دي خو تقرر، انفکاک، ترفیع، تقاعد، مجازات او مکافات یې دسترې محکمې له خوا له قانون سره سم تر سره کېږي.

مادهٔ یکصد و بیست و چهارم:

در مورد مامورین و سایر کارکنان اداری قوهٔ قضائیه، احکام قوانین مربوط به مامورین و سایر کارکنان اداری دولت نافذ می باشد ولی تقرر، انفکاک، ترفیع، تقاعد، مجازات و مکافات شان توسط ستره محکمه مطابق به احکام قانون صورت میگیرد.

یوسلو پنځه ویشتمه ماده:

د قضائیه قوې بودجه د حکومت په مشوره دسترې محکمې له خوا ترتیبېږي او د دولت د بودجې د یوې

مادهٔ یکصد و بیست و پنجم:

بودجهٔ قوهٔ قضائیه به مشورهٔ حکومت از طرف ستره محکمه ترتیب گردیده، به حیث جزء بودجهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخې په توګه د حکومت له خوا ملي شورى ته وړاندې کېږي.

د قضائيه قوې د بودجې تطبيق د سترې محکمې صلاحيت دى.

يوسلو شپږ ويشتمه ماده :
د سترې محکمې غړي، د خدمت د دورې تر پاى ته رسېدو وروسته، د پاتې ژوند په موده کې د خدمت د دورې له مالي حقوقو څخه برخمن کېږي، په دې شرط چې په دولتي او سياسي چارو بوخت نشي.

يو سلو اوه ويشتمه ماده:
که چېرې د ولسي جرګې تر دريمې برخې زيات غړي، د سترې محکمې د رئيس يا غړيو محاکمه، د وظيفوي جرم يا د جنايت د ارتکاب د اتهام پر اساس وغواړي او ولسي جرګه دا غوښتنه د ټولو غړيو له دريو برخو څخه د دوو برخو په اکثريت تصويب کړي، متهم له وظيفې څخه عزل او موضوع خاصې محکمې ته سپارل کيږي.

د محکمې تشکيل او د محاکمې طرز العمل د قانون په وسيله تنظيمېږي.

دولت، توسط حکومت به شوراى ملى تقديم مى شود.

تطبيق بودجۀ قوۀ قضائيه از صلاحيت ستره محکمه مى باشد.

مادۀ يکصد و بيست و ششم:
اعضاى ستره محکمه بعد از ختم دورۀ خدمت براى بقيه مدت حيات از حقوق مالى دورۀ خدمت مستفيد مى شوند مشروط به اينکه به مشاغل دولتى و سياسى اشتغال نورزند.

مادۀ يکصد و بيست و هفتم:
هرگاه بيش از يک ثلث اعضاى ولسى جرگه، محاکمه رئيس يا عضو ستره محکمه را بر اساس اتهام به جرم ناشى از اجراى وظيفه يا ارتکاب جنايت تقاضا نمايند و ولسى جرگه اين تقاضا را با اکثريت دو ثلث کل اعضا تصويب کند، متهم از وظيفه عزل و موضوع به محکمۀ خاص محول ميگردد.

تشکيل محکمه و طرز العمل محاکمه، توسط قانون تنظيم مى گردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو سلو اته ويشتمه ماده :

د افغانستان په محکمو کې محاکمه په علني ډول دايرېږي او هر څوک حق لري د قانون له حکمونو سره سم په هغې کې ګډون وکړي.

مادۀ يکصد و بيست و هشتم:

در محاکم افغانستان، محاکمه به صورت علنی داير می گردد و هر شخص حق دارد با رعايت احکام قانون در آن حضور يابد.

محکمه کولای شي، په داسي حالاتو کې چې په قانون کې څرګند شوی يا د محاکمي سري توب ضروري وګڼل شي، سري غونډې دايرې کړي خو د حکم اعلان بايد علني وي.

محکمه می تواند در حالاتی که در قانون تصريح گرديده، يا سری بودن محاکمه ضروری تشخيص گردد، جلسات سری داير کند ولی اعلام حکم بايد به هر حا ل علنی باشد.

يو سلو نهه ويشتمه ماده:

محکمه مکلفه ده د خپل صادر کړي حکم اسباب په فيصله کې ذکر کړي.

مادۀ يکصد و بيست و نهم:

محکمه مکلف است اسباب حکمی را که صادر می نمايد، در فيصله ذکر کند.

د محکمو د ټولو قطعي فيصلو عملي کول واجب دي خو د شخص د مرګ د حکم په حالت کې د جمهور رئيس منظوري شرط ده.

تمام فيصله های قطعی محاکم واجب التعميل است مگر در حالت حکم به مرگ شخص که مشروط به منظوری رئيس جمهور می باشد.

يوسلو دېرشمه ماده:

محکمې ترغور لاندې قضاياوو کې ددې اساسي قانون او نورو قوانينو حکمونه تطبيقوي.

مادۀ يکصد و سی ام:

محاکم در قضايای مورد رسيد گی، احکام اين قانون اساسی و ساير قوانين را تطبيق می کنند.

که د غور لاندې قضاياوو له جملې څخه د کومې قضيې لپاره په اساسي قانون او نورو قوانينو کې حکم موجود نه وي، محکمه د حنفي فقهې د

هر گاه برای قضيه يی از قضايای مورد رسيد گی، در قانون اساسی و ساير قوانين حکمی موجود نباشد محاکم به پيروی از

(c) ketabton.com: The Digital Library

احکامو له مخي او په هغو حدودو کې دننه چې دې اساسي قانون ټاکلي، قضيه په داسي ډول حل او فصل کوي چې عدالت په ډېره ښه توګه تأمين کړي.

احکام فقه حنفی و در داخل حدودی که این قانون اساسی وضع نموده، قضیه را به نحوی حل و فصل می نمایند که عدالت را به بهترین وجه تأمین نماید.

يوسلو يو دېرشمه ماده :

محکمې د اهل تشيع لپاره په شخصيه احوالو پورې مربوطو قضاياووکې د تشيع د مذهب حکمونه د قانون له احکامو سره سم تطبيقوي.

مادهٔ یکصدو سی و یکم:

محاکم برای اهل تشیع، در قضایای مربوط به احوا ل شخصیه، احکام مذهب تشیع را مطابق به احکام قانون تطبیق می نمایند.

په نورو دعوو کې هم که په دې اساسي قانون يا نورو قوانينو کې حکم موجود نه وي، محکمې قضيه د دې مذهب له حکمونو سره سم حل او فصل کوي.

در سایر دعاوی نیز اگر در این قانون اساسی و قوانین دیگر حکمی موجود نباشد، محاکم قضیه را مطابق به احکام این مذهب حل و فصل می نمایند.

يوسلو دوه دېرشمه ماده :

قاضيان د سترې محکمې په پيشنهاد او د جمهور رئيس په منظورۍ ټاکل کېږي.

مادهٔ یکصد و سی و دوم:

قضات به پیشنهاد ستره محکمه و منظوری رئیس جمهور تعیین می گردند.

د قاضيانو مقرري، تبديلي، ترفيع مواخذه او د تقاعد پيشنهاد د قانون له حکمونو سره سم د سترې محکمې صلاحيت دی.

تقرر، تبدل، ترفیع، مؤاخذه و پیشنهاد تقاعد قضات مطابق به احکام قانون از صلاحیت ستره محکمه می باشد.

ستره محکمه د اجرايي او قضايي چارو د ښه تنظيم او د لازمو اصلاحاتو د تأمين لپاره، د قضائيه قوې،

ستره محکمه به منظور تنظیم بهتر امور اجرایی و قضایی و تأمین اصلاحات لازم، آمریت عمومی اداری

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمومي اداري آمريت تأسيسوي.

يوسلو دري د پرشمه ماده :
كــه قــاضــي د جنايــت پــه ارتــكاب متهـم شي، ستره محكمـه د قـانون لـه حكمونو سره سم د قاضي پر حالت غور كوي، كه ستره محكمـه دده د دفـاع تر اوريـدو وروسـتـه اتهـام وارد وبـولي، جمهـور رئـيس تـه يې د عـزل پيشـنهاد كـوي د جمهـور رئـيس لــه منظــورۍ وروســتـه مــتهم قاضــي لــه وظيفــې څـــخه عــزل او د قــانون لــه حكمونــو سره سم جزا وركول كيږي.

يوسلو څلور د پرشمه ماده:
دجـرمــونـــو كـشــف د پـوليـــس پــه وســيله او دجرمونـــو تحقيـــق او پـــه محكمـه كې پر مـتهم بانـدې د دعـوا اقامـه دڅارنوالۍ لـه خوا ، د قـانون لـه احكامو سره سم كيږي.

څارنوالي د اجرائيه قوې برخـه ده او پـه خپلو اجراآتو كې استقلال لري.

د څــارنوالۍ تشــكيل، صــلاحيت او د اجراآتــو څـرنګـوالــى د قانــون لــه لــيـاره تـنـظـيـمـيـږي.

د وسله والو ځواكونو، پوليسو او دملي امنيت كاركوونكيو د وظيفوي جرمونو كشــف او تحقيــق د خــاص قــانون لــه

قوۀ قضائيه را تأسيس مى نمايد.

مادۀ يكصد و سى و سوم:
هرگاه قاضى به ارتكاب جنايت متهم شود ، ستره محكمه مطابق به احكام قــانون بــه حالــت قاضــى رسـيدگى نمـوده، پس از اسـتماع دفـاع او، در صورتيكه ستره محكمـه اتهـام را وارد بدانـد پيشـنهاد عـزلش را بــه رئـيس جمهور تقديم و با منظورى آن از طرف رئيس جمهور، قاضى متهم از وظيفـه معــزول و مطــابق بــه احكــام قــانون مجازات مى شود.

مادۀ يكصد و سى چهارم:
كــشـــف جــرايم، توسـط پــوليس و تــحقيــق جــرايــم و اقــامــۀ دعــوا عــلـيـــه متهـــم در مـحـكـمـــه، از طــرف څــارنوالى مطــابق بـه احكــام قانون صورت ميگيرد.

څـــارنوالى جـــزء قـــوۀ اجرائيـــه و در اجـراآت خــود مســتقل مــى باشد.

تــشـكـيـــــل، صـــــلاحيت و طـــــرز فـعــالــيت څـــارنـوالـــى تـوســط قــانون تنظيم ميگردد.

كشــف و تحقيــق جــرايم وظيفــوى منســوبين قــواى مســلح، پــوليس و مــوظفين امنيـت ملـى، توسط قــانون

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليارې تنظيمېږي.

يوسلو پنځه دېرشمه ماده:
که د دعوي لوری په هغه ژبه چې محاکمه پرې کېږي و نه پوهېږي، د قضيې پر موادو او اسنادو د اطلاع او په محکمه کې په خپله مورنۍ ژبه د خبروکولو حق دترجمان په وسيله ورته تأمينېږي.

اتم فصل
اداره

يوسلو شپږ دېرشمه ماده:
د افغانستان د اسلامي جمهوريت اداره د مرکزي اداري او محلي ادارو د واحدونو پر اساس له قانون سره سم تنظيمېږي.

مرکزي اداره پرځينو اداري واحدونو ويشل کېږي چې د هرې يوې په سرکې يو وزير وي.

دمحلي اداري واحد ولايت دی. د ولايتونو او مربوطه ادارو شمير، ساحه، برخي او تشکيلات د نفوسو دشمير، ټولنيزې او اقتصادي وضعې او جغرافيايي موقعيت پر اساس دقانون له ليارې تنظيمېږي.

خاص تنظيم می گردد.

مادهٔ يکصد و سی و پنجم:
اگر طرف دعوا زبانی را که محاکمه توسط آن صورت می گيرد، نداند، حق اطلاع به مواد و اسناد قضيه و صحبت در محکمه به زبان مادری، توسط ترجمان برايش تأمين ميگردد.

فصل هشتم
اداره

مادهٔ يکصدوسی وششم:
ادارهٔ جمهوری اسلامی افغانستان براساس واحدهای ادارهٔ مرکزی و ادارات محلی، طبق قانون، تنظيم ميگردد.

ادارهٔ مرکزی به يک عده واحدهای اداری منقسم ميگردد که در رأس هر کدام يک نفر وزير قرار دارد.

واحد ادارهٔ محلی، ولايت است. تعداد، ساحه، اجزا و تشکيلات ولايات و ادارات مربوط، بر اساس تعداد نفوس، وضع اجتماعی و اقتصادی و موقعيت جغرافيايی توسط قانون تنظيم ميگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوسلو اوه د پرشمه ماده:
حکومت د مرکزيت د اصل په ساتلو سره د اقتصادي، ټولنيزو او فرهنګي چارو د ګړندي کولو او ښه والي او د ملي ژوند په پرمختګ کې د خلکو د لا زياتې ونډې اخيستو په منظور، لازم صلاحيتونه د قانون له حکمونو سره سم محلي ادارې ته سپاري.

مادهٔ يکصد و سی و هفتم:
حکومت با حفظ اصل مرکزيت به منظور تسريع و بهبود امور اقتصادی، اجتماعی و فرهنگی و سهم گيری هر چه بيشتر مردم در انکشاف حيات ملی، صلاحيتهای لازم را مطابق به احکام قانون، به ادارهٔ محلی تفويض می نمايد.

يوسلو اته د پرشمه ماده:
په هر ولايت کې يوه ولايتي جرګه جوړېږي.

د ولايتي جرګې غړي له قانون سره سم د نفوسو په تناسب، د آزادو، عمومي پټو او مستقيمو ټاکنو له مخې د ولايت د اوسېدونکو له خوا د څلورو کلونو لپاره ټاکل کېږي.

ولايتي جرګه له خپلو غړيو څخه يو تن د رئيس په توګه ټاکي.

مادهٔ يکصد و سی وهشتم:
در هر ولايت يک شورای ولايتی تشکيل می شود.

اعضای شورای ولايتی، طبق قانون، به تناسب نفوس، از طريق انتخابات آزاد، عمومی، سری ومستقيم از طرف ساکنين ولايت برای مدت چهارسال انتخاب ميگردند.

شورای ولايتی يک نفر از اعضای خود را به حيث رئيس انتخاب می نمايد.

يوسلو نهه د پرشمه ماده:
ولايتي جرګه د دولت د پرمختيايي هدفونو په تأمين او د ولايت د چارو په ښه کولو کې لکه څنګه چې په قوانينوکې څرګنده شوې، برخه اخلي اوپه ولايت پورې د مربوطو چارو په باب مشوره ورکوي.

ولايتي جرګه خپلې وظيفې د محلي

مادهٔ يکصد و سی ونهم:
شورای ولايتی در تأمين اهداف انکشافی دولت و بهبود امور ولايت به نحوی که در قوانين تصريح می گردد سهم گرفته و در مسايل مربوط به ولايت مشوره می دهد.

شورای ولايتی وظايف خود را با

(c) ketabton.com: The Digital Library

اداري په مرسته سرته رسوي.

يوسلو څلو ېښتمه ماده:
د محلي اداري د چارو د سمون او په هغې کې د خلکو د فعالې ونډې اخيستو د تأمين په مقصد، په ولسواليو او کليو کې د قانون له حکمونو سره سم جرګې جوړېږي.

ددې جرګو غړي د آزادو، عمومي، پټو او مستقيمو ټاکنو له مخې دسيمې د اوسېدونکو له خوا د دريو کلونو لپاره ټاکل کېږي.

په محلي جرګو کې د کوچيانو ګډون د قانون له حکمونو سره سم تنظيمېږي.

يوسلو يو څلويښتمه ماده:
د ښاري چارو د اداري لپاره ښاروالي تشکيلېږي.

ښاروال او د ښاري مجلسونو غړي د آزادو، عمومي، پټو او مستقيمو انتخاباتو له لارې انتخابېږي.

په ښاروالیو پورې مربوطې چارې د قانون له لیارې تنظيمېږي.

يوسلو دوه څلويښتمه ماده:
دولت ددې اساسي قانون د

همکاری ادارۀ محلی اجرا می نماید.

مادۀ يکصد و چهلم:
برای تنظيم امور و تأمين اشتراک فعال مردم در ادارۀ محلی، در ولسوالی ها و قريه ها، مطابق به احکام قانون، شوراها تشکيل می گردند.

اعضای اين شوراها از طريق انتخابات آزاد، عمومی، سری و مستقيم از طرف ساکنين محل برای مدت سه سال انتخاب می شوند.

سهم گيری کوچيان در شوراهای محلی مطابق به احکام قانون تنظيم می گردد.

مادۀ يکصد و چهل و يکم:
برای ادارۀ امور شهری، شاروالی تشکيل می شود.

شاروال و اعضای مجالس شاروالی، از طريق انتخابات آزاد، عمومی، سری و مستقيم انتخاب می شوند.

امور مربوط به شاروالی ها توسط قانون تنظيم ميگردند.

مادۀ يکصد و چهل و دوم:
دولت به مقصد تعميل احکام

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکمونـو د تعـميل او د منـدرجو ارزښتونو د تـأمين لپـاره لازمې اداري جوړوي.

نهم فصل
اضطراري حالت

يوسلو دري څلويښتمه ماده:
کـه د جګـړې، د جګـړې دخطـر، وخـيم اغتشـاش او طبيعـي آفـاتو او يـا ورتـه حالت له امله د خپلواکۍ او ملي ژوند ساتنه پـه هغـه طريقـه چې پـه اساسي قانون کې ټاکل شوې، ناشونې وګرځي د جمهور رئيس له خوا د ملي شورى په تائيد د هېواد په ټولو او يا ځينې برخو کې اضطراري حالت اعلانيږي.

کـه اضـطراري حالـت تـر دوو مياشـتو زيـات دوام ومـومي، د اوږدولـو لپـاره يې د ملي شورى موافقه شرط ده.

يوسلو څلورڅلويښتمه ماده:
په اضطراري حالت کې جمهور رئيس کـولای شي د ملي شـورى او د سـترې محکمې له رئيسانو سره په مشوره، د ملي شورى ځينې صلاحيتونه حکومت ته انتقال کړي.

يوسلو پنځه څلويښتمه ماده:
په اضطراري حالت کې جمهور رئيس کولای شي چې د ملي شورى او دسترې

و تـأميـن ارزشهـاى منـدرج ايـن قـانـون اسـاسى، ادارات لازم را تشکيل مى نمايد.

فصل نهم
حالت اضطرار

مادۀ يکصد و چهل و سوم:
هرگـاه بـه علت جنـگ، خطـر جنـگ، اغتشـاش وخـيم، آفـات طبيعـى و يـا حالت مماثل، حفظ استقلال و حيـات ملى از مجرايى که در قانـون اساسى تعيين شده، ناممکـن گـردد، حـالـت اضـطرار از طـرف رئـيس جمهــور بـا تائيد شوراى ملى در تمـام يا بعضـى از سـاحـات کشـور اعلان مى شود.

هرگـاه حالـت اضطرار بيش از دو مـاه دوام نمايد، براى تمديـد آن، موافقت شوراى ملى شرط است.

مادۀ يکصد و چهل و چهارم:
در حـالـت اضـطرار رئـيس جمهـور مى تواند بـه مشـورۀ رؤسـاى شوراى ملـى و سـتره محکـمـه، بعضـى از صـلاحيت هـاى شـوراى ملـى را بـه حکومت انتـقال دهد.

مادۀ يکصد و چهل و پنجم:
در حـالـت اضطرار، رئيس جمهور مى تـوانـد بعد از تائيد روساى شـوراى

(c) ketabton.com: The Digital Library

محكمې د رئيسانو تر تائيد وروسته د اساسي قانون لاندینی حکمونه وځنډوي او يا قيود پرې ولګوي:

ملی و ستره محکمه، تنفیذ احکام ذیل را معطل بسازد و یا بر آنها قیودی وضع نماید:

۱- د اوه ويشتمې مادې دويمه فقره؛

۱- فقرۀ دوم مادۀ بیست وهفتم؛

۲- شپږ د پرشمه ماده؛

۲- مادۀ سی و ششم؛

۳- داوه د پرشمي مادې دويمه فقره؛

۳- فقره دوم مادۀ سی و هفتم؛

۴- داته د پرشمي مادې دويمه فقره؛

۴- فقره دوم مادۀ سی و هشتم؛

يوسلو شپږ څلويښتمه ماده:
داضطرار په حالت کې اساسي قانون نه تعديلېږي.

مادۀ یکصدو چهل و ششم:
در حالت اضطرار، قانون اساسی تعدیل نمی شود.

يوسلو اوه څلويښتمه ماده:
که چېرې دجمهوري رياست دوره او يا د ملي شورى تقنيني دوره د اضطرار په حالت کې پای ته ورسېږي، د نويو انتخاباتو تر سره کيدل ځنډېږي او د جمهور رئيس او ملي شورى د غړيو د خدمت موده تر څلورو مياشتو پورې تمديدېږي.

مادۀ یکصد و چهل و هفتم:
هرگاه دورۀ ریاست جمهوری و یا دوره تقنینیه شورای ملی در حالت اضطرار ختم شود، اجرای انتخابات جدید ملتوی گذاشته شده، مدت خدمت رئیس جمهور و اعضای شورای ملی تا چهار ماه تمدید می شود.

که اضطراري حالت تر څلورو مياشتو زيات اوږد شي، لويه جرګه د جمهور رئيس له خوا راغو ښتله کېږي.

هرگاه حالت اضطرار بیش از چهار ماه دوام نماید لویه جرگه از طرف رئیس جمهور دعوت می شود.

د اضطراري حالت تر پاي ته رسېدو وروسته، د دوومياشتو دننه انتخابات کېږي.

بعد از ختم حالت اضطرار، در خلال مدت دو ماه، انتخابات برگزار میگردد.

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوسلو اته څلویښتمه ماده:
د اضطراري حالت په پای ته رسېدو سره هغه اقدامات چې ددې اساسي قانون د (یوسلو څلور څلويښتمې او يوسلو پنځه څلويښتمې) مادې له مخې شوي، بې له ځنډه له اعتباره لوېږي.

لسم فصل
تعدیل

يوسلو نهه څلويښتمه ماده:
د اسلام دسپېڅلي دين له حکمونو څخه د پيروی، اصل او اسلامي جمهوري نظام نه تعديلېږي.

د اتباعو د اساسي حقوقو تعديل يوازې د هغوی د حقوقو د ښېگنې په منظور جواز لري.

ددې اساسي قانون د نورو موادو تعديل د زمان د غوښتنو او تجربو له مخې، ددې اساسي قانون د اوه شپېتمې او يوسلو شپږ څلويښتمې مادې د احکامو په رعايت سره، د جمهور رئيس يا د ملي شورى د اکثريت په پيشنهاد کېږي.

يوسلو پنځوسمه ماده:
د تعديل د پيشنهاد لپاره د جمهور رئيس په فرمان د حکومت،

مادۀ یکصد و چهل و هشتم:
در ختم حالت اضطرار، اقداماتی که بر اساس مواد یکصد و چهل و چهارم و یکصد و چهل و پنجم این قانون اساسی به عمل آمده، بلا فاصله از اعتبار ساقط میگردند.

فصل دهم
تعدیل

مادۀ یکصد و چهل و نهم:
اصل پیروی از احکام دین مقدس اسلام و نظام جمهوری اسلامی تعدیل نمی شوند.

تعدیل حقوق اساسی اتباع صرف به منظور بهبود حقوق آنان مجاز می باشد.

تعدیل دیگر محتویات این قانون اساسی، نظر به تجارب و مقتضیات عصر، با رعایت احکام مندرج مواد شصت و هفتم و یکصد و چهل و ششم این قانون اساسی، با پیشنهاد رئیس جمهور یا اکثریت اعضای شورای ملی صورت می گیرد.

مادۀ یکصد و پنجاهم:
به منظور اجرای پیشنهاد تعدیل، هیئتی از بین اعضای حکومت،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملي شوری او سترې محکمې د غړیو له منځه، یو هیئت جوړېږی او د تعدیل طرح تیاروي.

د تعدیل د تصویب لپاره د جمهور رئیس په فرمان او د لویې جرګې د فصل له حکمونو سره سم لویه جرګه دایرېږی.

که لویه جرګه د ټولو غړیو له دریو برخو څخه د دوو برخو په اکثریت د تعدیل طرح تصویب کړي، د جمهور رئیس تر توشېح وروسته نافذېږی.

یوولسم فصل
متفرقه حکمونه

یوسلو یو پنځوسمه ماده:
جمهور رئیس، د جمهور رئیس مرستیالان.، وزیران او دسترې محکمې رئیس او غړي، لوی څارنوال، د مرکزي بانک او ملي امنیت رئیسان، والیان او ښاروالان د خپلې وظیفې په وخت کې نشي کولای له دولت سره هېڅ ډول انتفاعي معامله تر سره کړي.

یوسلو دوه پنځوسمه ماده:
جمهور رئیس، د جمهور رئیس مرستیالان، وزیران، د ملي شوری او سترې محکمې رئیسان او غړي، لوی

شورای ملی و ستره محکمه به فرمان رئیس جمهور تشکیل گردیده، طرح تعدیل را تهیه می کند.

برای تصویب تعدیل، لویه جرگه بر اساس فرمان رئیس جمهور و مطابق به احکام فصل لویه جرگه دایر میگردد.

هرگاه لویه جرگه با اکثریت دو ثلث کل اعضا طرح تعدیل را تصویب کند، بعد از توشیح رئیس جمهور نافذ می گردد.

فصل یازدهم
احکام متفرقه

مادهٔ یکصد و پنجاه و یکم:
رئیس جمهور، معاونین رئیس جمهور، وزرا، رئیس و اعضای ستره محکمه، لوی ثارنوال، روسای بانک مرکزی و امنیت ملی، والیان و شاروالها در مدت تصدی وظیفه نمی توانند هیچ معامله انتفاعی را با دولت انجام دهند.

مادهٔ یکصد و پنجاه و دوم:
رئیس جمهور، معاونین رئیس جمهور، وزرا، رؤسا و اعضای شورای ملی و ستره محکمه، لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

څارنــوال او قاضـيان نشـي كـولای د وظيفـې د تصـدی، پـه مـوده كـې نـور مشاغل ولري.

يوسلو دري پنځوسمه ماده:
قاضـيان، څــارنوالان، د وسـله والــو ځواكونـو او پوليسـو منصبداران او د ملي امنيت كاركوونكی نشی كولی د وظيفې دتصدی، په موده كې په سياسي گوندونو كې غړيتوب ولري.

يوسلو څلور پنځوسمه ماده:
د جــمهور رئيس، د جمهـور رئيس د مـرستيــــالانو، وزيرانـــو اوســتري محكمــې د غــړو او لــوی څــارنوال شتمني، د خدمت تر دورې وړاندې او وروسته، د هـغه اورگان پـه وسيلــه چــې قــانــون يــې ټــاكې ثــبت، څېــړل كېږی او خپرېږی.

يوسلو پنځه پنځوسمه ماده:
د جمهـور رئيس مرستيالانو، وزيرانـو، د ملـي شــوری رئيســانو او غړيــو، د ستري محكمې غړيو، قاضيانو او لوی څارنوا ل تـه د قـانون لـه حكمونـو سره سم، مناسب معاش ټاكل كېږی.

يوسلو شپږ پنځوسمه ماده:
د هـــر ډول انـتـخـابـاتــو د څــارنې او اداري او په هېواد كې د خلكو عمومي

څارنــوال و قضـات نـمی تواننـد در مـدت تصـدی وظيـفـه بـه مشـاغــل ديگری اشتغال ورزند.

مادهٔ يكصد و پنجاه و سوم:
قضـات، څـارنوالان، صـاحب منصبان قــوای مسـلح و پــوليس و منسـوبين امنيت ملی، در مدت تصدی وظيــفه نمــی تواننـــد در احـــزاب سياســـی عضويت داشته باشند.

مادهٔ يكصد و پنجاه و چهارم:
دارايـــی رئـيس جمهــور، معــاونين رئـــيس جـمهـــور، وزرا، اعضـــای ستــره محكمـــه و لـوی څارنــوال قـبـــل و بـــعد از دورهٔ خـــدمت، تــوســـط ارگانـــی كـــه در قانـــون تـعـيـين ميگـردد، ثبت، رسيدگی و نشر می شود.

مادهٔ يكصد و پنجاه و پنجم:
بـــرای معاونـــين رئـــيس جمهـــور، وزرا، رؤسـا و اعضای شورای ملی و ستره محكمه، قضات و لـوی څارنوال مـطابق به احكام قانون معاش مناسب تـعيين ميگردد.

مادهٔ يكصد و پنجاه و ششم:
كــميسيون مستقل انتخابات بـرای اداره و نــظارت بر هر نوع انـتـخـابات

(c) ketabton.com: The Digital Library

رایو ته د مراجعې لپاره د انتخاباتو مستقل کمېسیون د قانون له حکمونو سره سم جوړېږي.

یوسلو اوه پنځوسمه ماده:
د اساسي قانون پر تطبیق د څارنې خپلواک کمېسیون د قانون له حکم سره سم تشکیلېږي.

ددې کمېسیون غړي د جمهور رئیس له خوا د ولسي جرګې په تائید تعینېږي.

دولسم فصل
انتقالي حکمونه

یوسلو اته پنځوسمه ماده:
د ملت د بابا لقب او هغه امتیازونه چې د ۱۳۸۱ هجري شمسي کال د اضطراري لویې جرګې له خوا د افغانستان پخواني پاچا اعلیحضرت محمد ظاهر شاه ته ورکړل شوي دي، ددې اساسي قانون د حکمونو له رعایت سره سم د ژوند تر پایه د دوی لپاره محفوظ دي.

یوسلو نهه پنځوسمه ماده:
د دغه اساسي قانون له نافذیدو څخه د ملي شورې د افتتاح تر نېټې پورې موده د انتقال دوره ګڼل کېږي.

و مراجعه به آرای عمومی مردم در کشور مطابق به احکام قانون تشکیل میگردد.

مادهٔ یکصد و پنجاه و هفتم:
کمیسیون مستقل نظارت بر تطبیق قانون اساسی مطابق به احکام قانون تشکیل می گردد.

اعضای این کمیسیون از طرف رئیس جمهور به تائید ولسی جرگه تعیین میگردند.

فصل دوازدهم
احکام انتقالی

مادهٔ یکصد و پنجاه و هشتم:
لقب بابای ملت و امتیازاتی که توسط لویه جرگه اضطراری سال یکهزار و سه صد و هشتاد و یک هجری شمسی به اعلیحضرت محمد ظاهر شاه، پادشاه سابق افغانستان، اعطا شده است با رعایت احکام این قانون اساسی مادام الحیات برای ایشان محفوظ می باشد.

مادهٔ یکصد و پنجاه و نهم:
مدت بعد از نفاذ این قانون اساسی تا تاریخ افتتاح شورای ملی، دورهٔ انتقال شمرده می شود.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان انتقالي اسلامي دولت د انتقال په دوره کې لاندينۍ وظيفې سرته رسوي:

۱- دشپږو مياشتو دننه جمهوري رياست، ملي شورى او محلي جرګو د انتخاباتو په اړه د تقنيني فرمانونو صادرول؛

۲- له يوه کال څخه په کمه موده کې د محکمو د صلاحيتونو او تشکيلاتو او د اساسي تشکيلاتو پر قانون باندې دکار د پيل په اړه د فرمانونو صادرول؛

۳- د انتخاباتو د خپلواک کميسيون جوړول؛

۴- د اجرايي او قضايي چارو د غوره تنظيم په منظور د لازمو اصلاحاتو سرته رسول؛

۵- د دې اساسي قانون د حکمونو د تطبيق په برخه کې د زمينې د برابرولو لپاره لازم تدبيرونه نيول؛

يوسلو شپيتمه ماده:
لومړنی منتخب جمهور رئيس د انتخاباتو د نتايجو تر اعلان دېرش ورځې وروسته د دغه اساسي قانون له حکمونو سره سم په کار پيل کوي.

دولت انتقالی اسلامی افغانستان، در دورهٔ انتقال، وظايف ذيل را انجام می دهد:

۱- اصدار فرامين تقنينی مربوط به انتخابات رياست جمهوری، شورای ملی و شوراهای محلی در مدت شش ماه؛

۲- اصدار فرامين در مورد تشکيلات و صلاحيت محاکم و آغاز کار روی قانون تشکيلات اساسی در خلال مدت کمتر از يکسال؛

۳- تشکيل کميسيون مستقل انتخابات؛

۴- انجام اصلاحات لازم به منظور تنظيم بهتر امور اجرايی و قضايی؛

۵- اتخاذ تدابير لازم جهت آماده ساختن زمينه برای تطبيق احکام اين قانون اساسی؛

مادهٔ يکصد و شصتم:
اولين رئيس جمهور منتخب، سی روز بعد از اعلام نتايج انتخابات، مطابق به احکام اين قانون اساسی به کار آغاز می کند.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر اړخيزې هڅې کېږي چې د جمهور رئيس او ملي شورا انتخابات په يوه وخت کې تر سره شي.

کوشش همه جانبه صورت مى گيرد تا اولين انتخابات رئيس جمهور و شوراى ملى با هم در يک وقت صورت بگيرد.

د ملي شورى واکونه د هغې د تأسيس تر مودې پورې پدې اساسي قانون کې حکومت ته سپارل کېږي او مؤقته ستره محکمه د جمهور رئيس په فرمان جوړېږي.

صلاحيت هاى شوراى ملى مندرج در اين قانون اساسى تا زمان تأسيس اين شورى به حکومت تفويض مى شود و ستره محکمهٔ مؤقت به فرمان رئيس جمهور تشکيل مى گردد.

يوسلو يوشپيتمه ماده:

ملي شورى له تأسيس سره سم خپل واکونه او وظايف ددې اساسي قانون د حکمونو مطابق عملي کوي.

مادهٔ يکصد و شصت و يکم :

شوراى ملى، وظايف و صلاحيت هاى خود را به مجرد تأسيس، مطابق به احکام اين قانون اساسى، اعما ل مى کنند.

د ملي شورى له لومړنۍ غونډې وروسته د دېرشو ورځو په موده کې حکومت او ستره محکمه ددې اساسي قانون له حکمونو سره سم تشکيلېږي.

بعد از داير شدن اولين جلسه شوراى ملى، در خلال مدت سى روز، حکومت و ستره محکمه مطابق به احکام اين قانون اساسى تشکيل مى گردند.

د افغانستان د انتقالي اسلامي دولت رئيس تر هغه وخته پورې وظيفه سرته رسوي چې منتخب جمهور رئيس په کار پيل نه وي کړی.

رئيس دولت انتقالى اسلامى افغانستان تا زمانيکه رئيس جمهور منتخب به کار آغاز کند اجراى وظيفه مى نمايد.

ددې اساسي قانون د يوسلو نهه پنځوسمې مادې د څلورمې فقرې د حکم په رعايت، د دولت اجرايي او

ارگانهاى اجرايى و قضايى دولت با رعايت حکم فقرهٔ چهارم مادهٔ يکصد و پنجاه و نهم اين

(c) ketabton.com: The Digital Library

قضایي ارگانونه د حکومت او سترې محکمې تر تشکیل پورې خپلو وظایفو ته ادامه ورکوي.

هغه تقنیني فرمانونه چې دمؤقتې دورې له پیل څخه وروسته نافذ شوي دي د ملي شورى لومړنۍ غونډې ته راجع کېږي.

دا فرامین تر هغه وخته پورې چې د ملی شورى له خوا لغوه شوي نه وي نافذ ګڼل کېږي.

یوسلو دوه شپیتمه ماده:

دا اساسي قانون د لویې جرگې له تصویب څخه وروسته نافذ او د افغانستان د انتقالي اسلامی دولت د رئیس له خوا توشېح او اعلامېږي.

په نافذېدو سره یې ددې اساسي قانون له حکمونو مغایر قوانین او تقنیني فرمانونه لغوه کېږي.

قانون اساسی، الی تشکیل حکومت و ستره محکمه به وظایف خود ادامه میدهند.

فرامین تقنینی که از آغاز دورۀ مؤقت به بعد نافذ گردیده است به اولین جلسه شورای ملی ارجاع می گردند.

این فرامین تا زمانیکه از طرف شورای ملی لغو نگردیده باشند نافذ می باشند.

مادۀ یکصد و شصت و دوم:

این قانون اساسی از تاریخ تصویب لویه جرگه نافذ و از طرف رئیس دولت انتقالی اسلامی افغانستان توشیح و اعلام میگردد.

با نفاذ این قانون اساسی، قوانین و فرامین تقنینی مغایر احکام آن ملغی می باشد.

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library